غزل

هغه ګریوان چې له ازله د ګنډلو نه و
جنون یې هم د زولنو د ټینګیدلو نه و

د ارمانونو پر ساحل مې بیړۍ ډوبه سوله
بیده قسمته دا ګودر د غرقیدلو نه و

چې بیخبره دې رخصت سوم له حضوره څخه
د عزراییل خاموش پیغام د اوریدلو نه و

د دار پر سر که مې ناري د اناالحق وهلې
شیخه معذور یم هغه سر ستا د ویلو نه و

یوازې ما د خپل جانان قولونه واخیستله
دا کوه طور د فرعونانو د لیدلو نه و

زه په لمبو کې سوځیدم جلوه مې ولیدله
هغه مقام د هر خامبازه د ورتللو نه و

چې جهاني یې د پیړیو په وعده اوبیږي
خواره زاهده هغه جام ستا د چښلو نه و

۸ - ۳ - ۸۹

ورکه لار

چیرته درومي دا لار ورکي کاروانونه
دا پر تورو کړليچونو ورك رغونه
چا کفن په غاړه کړی پکې ناڅي
څوك پر خاورو تويوي ژوندي جامونه
د کوثر له جامه څاڅي د اور څاڅکي
د دوزخ په لړمانه کې کوثرونه
پر هر مور پر هر قدم بدنامي کندي
د ګناه په شمعو رون دي خلوتونه
دا جرس به لا ترکله په شرنګا وي
لا ترکله به وهي ستړي مزلونه

لا ترڅو به دا مرموزه قافله وي

پـــی کـوو به بـې هـــدفه رباتونه

لا ترڅو به دا راهزن کاروان سالار وي

چوروي به پر دې لار سر و مالونه

دا د کوم ظالم په لاس يې مهار کښيوت

چې د مرګ په کندو باسي منزلونه

لا ترڅو به مو مقتل د ناجې کور وي

مچوو به د قاتل خيرن لاسونه

لا ترکله به ستايو خوني منګولې

قهرمان به وي چې ډير کړي لحدونه

لا ترڅو به ژوندون باج د مرګي اخلي

لا به وژني د ځوانۍ يا غي اورونه

لا ترکله به لمن د فلك سره وي

لا ترڅو به يې تر زړه خيژي دودونه

لا ترڅو به مو کاذب سهار تير باسي

لا ترڅو به د شفق سره وي لاسونه

لا ترڅو به دا بې سوره نغمه کوك وي

سوروي به بيده خلك پوچ سرونه

نوامبر ۷۹ ، خيرخانه مينه

د اورونو ځولی

د اورونو ځولی اوري د آسمان سترګې ړندې دي
ګل پر څانګه سره لمبه دی د نسیم لاسونه پرې دي
ښکاري زیری د مرګي دی رویبار سر تر نوکه ریږ دي
د رقیب لاسونه ناڅي ویښې کړې یې فتنې دي
د مرګی قاصد راغلی یو تر بل سره جاریږي
ما لیدلی دي یارانو د فلك سترګې کړې دي
لا به ولې نه ژړیري د پردیسي ځوانی اوښکې
د جانان آخر دیدن دی د بیلتون سترګې لا سرې دي
چیرته بل وطن ته یوسه دا د غم د اوښکو زمی
دلته کور په کور ناورین دی مرګه مه ټومبه خیمې دي

عزازیل کوثر نیولی خضر وینې ، وینې ژاړي
کنډولی له تندې سوځي د ساغر شونډې سپیرې دي
شیخه څه شیطان دې مل دی تر چوخې لاندې یې نوشه
څه توبه دې سوه قبوله خلوتونه خمخانې دي
چې پرون به دې چیچلې د کاسې په طمع شونډې
نن یې وړه درته روا دي بې وارثه آشیانې دي
مبارك دې سه زاهده کوخې ډکې دي له حورو
پکې وسوځه سجدې دې پکې ماتې که توبې دې
نن دې واردی سړوه یې د کلونو وحشي تنده
د ګناه تخمونه پاشه بې صاحبه کروندې دي

۷ - ۲۲ - ۱۹۹۲

غزل

چې دې پرمخ د تورو زلفو سلسلې پاته دي
زما هم د عمر توري ورځې سپينې شپې پاته دي

جنونه بيا مې د رنځور عقل پوښتنه وکه
لا د ازل په جيلخانو کې زولنې پاته دي

نه د فلك زړه را سړيږي نه زه ستړی سومه
لا د وختونو په ګوګل کې زلزلې پاته دي

ستا له څپيړو مې رقيب د مينې شور وليدئ
لا مې په زړه کې د رازونو خزانې پاته دي

مور ليونو ته د حساب خبرې مه يادوه
ستا تر دوزخ پورې پيړۍ دي دلته شپې پاته دي

ته د ګناه بڅرې مينځې د پرهيز په اوښکو
زاهده پټې دې په وينو کې لمبې پاته دي

رقيبه ژر دې لا سزا د قبليدلو نه ده
چې د ځوانۍ پر هديره مې منارې پاته دي

غمازه تل به پر دې لاره تيندکونه وهې
په دې کوڅه کې مې د پلونو خاطرې پاته دي

د جهاني شونډو ته نه راځي توبه زاهده
چې د قسمت په ميخانه کې پيمانې پاته دي

چې زما درد لره ژبه پيداسي

زما درد يو بې آوازه شان نغمه ده
زما ذات يوه بې نومه شان ذره ده
چې زما درد ته کله ژبه ورپيدا سي
نو به خپل نوم او نښان را برملا سي
چې هستي مې د خپل ذات راته مفهوم سي
راز د نظم د جهان راته معلوم سي
چې خبر سم د دې پټ پوښلي رازه
سم بادار د کاينناتو د ملکونو
پاچاهي کوم د دوارو جهانونو

د پاکستاني شاعر فيض احمد فيض
د اردو شعر ترجمه

۳ - ۱٤ - ۹۳

غزل

چې يې نومونه د جنون په افسانو کې ښه دي
دا ليوني تقديره ستا په زولنو کې ښه دي

دلته سرونه بيله کاڼو بل څه نه پيژني
دغه واعظ او دا کتاب په مدرسو کې ښه دي

مالا تازه د خپل جانان سره وعدې نوې کړې
زاهده ستا حورې غلمان په جنتو کې ښه دي

منزل ته لاړې د خلوت په تاريکو کې نه وې
څوک چې د حق نارې وهي په غرغرو کې ښه دي

د ښکلو سترګو له محله مستي مه تښتوه
د اوښکو څاڅکي په شهيدو ګريوانو کې ښه دي

محفل يې مه تاريکوه ټولې يې مه ورانوه
دا پتنګان د خپلې شمعې په لمبو کې ښه دي

رقيبه ستا له تعبيرونو مې خوبونه تښتي
بيده خيالونه مې ساتلي په لېمو کې ښه دي

چې د کاروان او د جرس نارې يې نه ويښوي
دا مساپر د لويو لارو په تيارو کې ښه دي

چې نه نشه دي نه خمار دي نه د زلفو اسير
د جهانې زيړه نظمونه په پښتو کې ښه دي

ويرجينيا ، ۹۳ - ۱۲ - ۱

زیږه ژبه دې جاریږم
د ماضي پانې مې وایه
خیبرونه میوندونه
راته ستایه راته ستایه

ماته هم بخري راوړه
لږ مې نظم ته اور ورکه
لږ مې پاڅوه چې خوځو
لږ ما هم په چیغو سرکه

زه یې وینم چې لاهو ده
د قسمت په توپانو کې
ږنګه بنګه بیږې درومي
لاره باسي په څپو کې

زه یې وینم چې پرې اوري
لکه غشي تندرونه
هره خوا ورته اړم دي
د ازل وحشي موجونه

ژوندی بُت

توپاني بيړۍ لاهو کړو
د ياغي بحر څپو ته
موج پر موج يې ورسپارلو
د تياره قسمت پنجو ته

د نهنګ د جنګ په بيه
د ساحل غيږې ته تللو
د نجات لوري مو ورک سو
ژوبيدو پورته کيدلو

ما لیده چې زما ملګري
یو په بل پسې غرقیږي
د وروستي تلاش ناري یې
په سپلیو کې ورکیږي

څوک ساحل ته رانږدې سي
خو د ګاري ټکرونه
د چا شل کې دواړه لاسه
د چا مات کې اورمیږونه

څوک د وزې نهنګ شومه
څوک د موج غیږ کې ډوبیږي
د یاغي توپان ګرداب یې
پر وروستۍ غوټو نخښیږي

دړې وړې بیړۍ درومي
په سپلیو په څپو کې
د امید ساحل یې ورک دی
لالهانده په څپو کې

د نصیب ساحل ته یورم
د ازل تږو موجونو
د قسمت هاتف راوینې کړم
له خیالونو له خوبونو

عقل کړه سو له سره
لاره واخیسته خیالونو
خپل ګامونه مې پردې سول
مرور له تدبیرونو

د یو بل آفت له ویرې
پر معبد وررهي کیږم
پکښې بت ایجادومه
په طاعت یې مشغولیږم

یاقوتي شونډې مې ورکړې
د صدفو سپین غاښونه
په اوږو مې کړل وروصل
د مرمر ښکلي لاسونه

د قدرت تاج مې ورپوښ کړ
د هنر په مرغلرو
د معبد فرش مې ورجوړ کړ
د فولادو او د زغرو

په سنګلا سجده طلبه
په هیبت نړوي غرونه
په سجده ورته ساحل سي
ورنه وتښتي موجونه

خلوتګاه ته مې بلله
خپل یاران په مینه مینه
ویلول مې ژوندۍ غوښه
وچول مې د زړه وینه

دغه زما د هیلو پوله
دغه زما د امن کور سو
دغه زما د ژوندون مینه
دغه زما د مرګي ګور سو

ما د ځان په سوځولو
رونړول د معبد خونه
ما د ژوند لړۍ اوبه کړه
څو ورجوړ کمه لاړونه

له نیستیه مې هست کړي
زما نفس پکښې چونیږي
په سجدو مې را ژوندی کړ
زما په وینو اوبه کیږي

سښخوم یې پښو ته اوښکې
په خپل روح یې لویومه
زړه او ځان ورجارومه
د غرور غر سوځومه

هیرول مې توپانونه
د خلوت په تاریکو کې
لټول می لنډه لاره
په اوږدو اوږدو سجدو کې

زه خالق د ده د حسن
دی مخلوق زما د لاسونو
دی خالق زما د خیالونو
دی هاتف زما د شعرونو

دی مسجد زما د سجدوو
دی معبد زما د خوبونو
زه قوت د ده د جسم
او دی زما د شهکارونو

یوه شپه د شپې په زړه کې
د معبد پر لورې تلمه
بیا مې نذر خپل غرور کړ
بیا په عجز کړیدمه

بیا مې غوښتل چې هدیه کړم
د تعظیم او تکریم اوښکې
بیا یې پښو ته صدقه کړم
د خپل زړه د وینو رښکې

خو تیاره کې مې تر غوږ سول
څه اشنا غوندې ږغونه
د زګیروي سره ملګري
د ملګرو آوازونه

د معبد په کونج کې غورځي
څو بې تنه پرې سرونه
د بت پښو ته مې پراته دي
د چا پښې د چا لاسونه

نابیره بت ژوندی سو
سړوول یې مړوندونه
د قاه قاه ږغ یې سو پورته
لړزوي د سجدې خونه

توري سترګې یې سوې ژړې
خوله یې لو سوه تر غوږونو
ها د حسن سومنات مې
قتل ګاه د هنرونو

سپین لاسونه یې اوږده سول
تور منګول تږي جوړیدله
له یزدانه اهریمن سو
پنډ شونډان یې رپوله

ژړ غاښونه یې ښکاره سول
له دوو شونډو راوتلې
را اوږدې یې کړې مړه ته
دوې خونې تورې منګولې

زه خالق د ده د جسم
په خپل روح مې را ایجاد کړ
دی نامرده یهودا سو
د نیکۍ نوم یې برباد کړ

د هنر تیشه رااخلم
ورکومه ګوزارونه
ککرۍ یې پرې کومه
ماتومه یې لاسونه

سوځومه د بت نښې
ورانوم د معبد خونه
نړوم د محراب نښې
د اوږدو سجدو یادونه

د هاتف چیغې مې مات کړل
د خوبونو ځنځیرونه
سترګې رونې لولپه سول
د خیالونو درمندونه

پلار نیکه دې بتان جوړ کړل
د وروریو په وژلو
تورې شپې یې کړلې رونې
د تعظیم په ژړیدلو

له توپانه خلاصیدله
په معبد کې زنداني سول
چې په خپل نفس یې هست کړل
د هغه بت قرباني سول

نور د بت په جوړولو
له تیږانه نه خلاصیږي
په اوږدو اوږدو سجدو کې
لټه منزل ته نه رسیږي

چیرته وه یو ډله خلك
چې مهار یې کړل موجونه
له سیلې سره ډغرو
ماتوله سیلاوونه

ستاسې موټې ستاسې منډې
لټوي د بیړۍ لارې
د فرهاد د تیشې زور دی
ماتوي چې سختې ګارې

کابل ، سرای غزني
۱۹۷۷ ، جولای

زه يې وينم چې ما تيږي
لوی موجونه، لکه غرونه
د قسمت ساحل ته لنډ سول
د پيړۍ ستړي مزلونه

ما ليدله چې فلك ته
خپل موجونه توپاني سول
د تقدير څخه لار ورکه
تدبيرونه يې ياغي سول

د شفق له پلوشو نه
راڅرګند سول رباتونه
د اميد پر مزله اوړي
جرسونه کاروانونه

خو زما سيوری پکې نسته
نا اشنا ښکاري ګامونه
زه له ځانه پردی سوی
بيګانه مې دي خيالونه

ويرجينا ، ۹۰ - ٦ - ۱۲

ځنګل شاهي

کتابونو دي راوړي دا نکلونه
چا تري واخيستي مزي چا عبرتونه
چې لا نه و انسانان پرمخ د محکې
ځناورويو پر بل کول حکمونه
په ځنګلو کې د ځنګله قانون روان و
چلول امير زمري پکښې امرونه
د کمزورو سره غم و د سرونو
زورورو سنګارول ژوندي سرونه
لوی لیوان' لکه خوګان په غوښو بارو
ګرځیدل به سرې سرې سترګې غوړې بریتونه

د کمزورو په ژوندوني سا ختلې

پر هډوکو يې وچ سوي وه پوستونه

امير هم د زورورو طرفدار و

چا يې نه کړل په حضور کې فريادونه

يوه ورځ د لوی امير ټوکو ته زړه سو

راحاضر يې کړ جلاد تيره غاښونه

ويل راولئ موږك زما تر حضوره

چې سپارمه دې بيکاره ته کارونه

حاضر باشو جلادانو موږك راووست

ريږديدله يې له ويرې اندامونه

د امير حضور يې هيڅ نه و ليدلی

نه خبرو و له دستوره له قانونه

د دربار هره گوښه ورته بلا وه

د مرگ ږغ ته يې بوڅ کړي وو غوږونه

نــاببره امـير وويـل مـوږکه

ستا له لاسه هميشه راځي عرضونه

په ځنگله کې حيوانان له لوږې مړه سول

ستا په کور کې د غنمو گودامونه

پيشو هم تا بې حيا بې شرمه بولي

درباريان مې هم لري شکايتونه

ما ټاکلې ستا د پاره وظيفه ده

چې مصروف دې کړي هفتې مياشتې کلونه

هغه دا چې هغه لیرې غره د پاسه

چې ولاړ دي چنارونه او سمبرونه

لویې ونې او کوندې کړه تري رابیلې

چې رانه وړې نیالګي واړه ښاخونه

مورك وویل امیره ستا قربان سم

تاسې وګورئ زما پښې او زما لاسونه

زه به څرنګه چپه کړم لویې ونې

زه به څرنګه راوړم لوی چنارونه

ماته وسپاره یو کار زما تر قدرته

صدقه دې سه زما وینې اولادونه

لویې ونې ماتول د پیل په وس دي

بار ته وټاکه اوښان خره او آسونه

د امیر سترګې سوې سرې له ډیره قهره

ویل ووزئ درباریانو پریږدئ خونه

چې یوازې سول امیر او مورك دواړه

او خالي سول د دربار ټوله کونجونه

په حیرت حیرت مورك ورته کتله

زمري پورته کړل له مخې نقابونه

تر نقاب د لاندې بل حیوان ښکاره سو

غټې زامې پنډ اوربوز اوږده غوږونه

دا هغه له کلي تللی سپیره خرو

چې یې وړای نه سول درانه درانه بارونه

موږك وازه خوله حيران خر په خندا سو
ويل واخله زما له عقل نه پندونه
چې زه خر يم د زمري پر کرسۍ ناست يم
و ويشمه پيل او پرانګ ته منصبونه
ته هم کړلای سې چې لويې ونې پرې کړې
او د ځمکې سره سم کړې دا ځنګلونه
دلته مـه وايه چـې دا مې په وس نه دي
که دې زړه غواړي د ژوند واړه عيشونه

ويرجينيا ، ۹۰ - ۳۱ - ۳

غزل

چې پرون پکښې غوغاوه نن زندان پر ماتیدو دی
عقل کړه سو له ښاره دا لښکر د لیونو دی

محتسب او قاضي دواړه په کوڅه کې راښکاره سول
ځئ چې ځو له دې محفله دلته خم پر تشیدو دی

شیخه سرته امان غواړه مات یې نه کې تصویرونه
دلته سر په سر سودا ده دا وطن د پښتنو دی

چې سبا تسبیح په غاړه جام په لاس ورسره ناڅې
دغه نن توبه رخصت که چې موسم په تیریدو دی

سترګو سر پر سریې ګورئ د یادونو جوړې راغلې
کاسې ډکې ډکې راوړئ چې نن کور د میلمنو دی

مرګه ولې دې تلوار دی لږ په ورو قدم راواخله
د ژوندون ناکاره ځلی هسې هم په نړیدو دی

زه پرهار پرهار ژړیږم ته خبرې د ازل کړې
دا قلم د ماتیدو دی ، دا کاغذ د سوځیدو دی

جهاني بخت دې بیدار سو رویبار نوی خبر راوړې
څوك پر هوښ باندې راغلی دلته ږغ د زولنو دی

اپریل ، ۱۹۹۲

دپښتو نومیالی شاعر خان عبدالغني خان او د پایکوب شاعر

عبدالباري جهاني (غني ته شعر د مجموعي ۸۳- ۸٤ مخونه)

B
3.532
JAH
4615
4.2

غزل

پناه ته له ناکامه توپانو راوړی یم
ملګرو دې محل ته زلزلو راوړی یم
صیاد مې پر زګیروی باندې مین سو توره بخته
قفس ته مې خوږمنو غلبلو راوړی یم
قسمت مې له وزر سره اورونه دي ګنډلی
یارانو دې انګار ته زولنو راوړی یم
یوه شیبه مې پریږده زنګوم ستړي خوبونه
ساحله ترلمنې دې څپو راوړی یم
کلونه لکه اوښکې د ګریوان پر لورې ولاړل
مرګیه نن دې غیږې ته سلګو راوړی یم
زخمي اوښکې مې نه دي د ناسور له پرهارونو
دیدن ته دې حبیبه بهانو راوړی یم
لا ولې مې په لاس کې پیمانې په کانو ولې
زاهده دې مقام ته خو توبو راوړی یم
سرابه جهانې دې په دام نه دی کښیوتلې
کوثر ته د نصیب هیرو وعدو راوړی یم

واشنګټن ، ۹۳ - ٦ - ٥

اسحق ننګيال ته

ماته ولې را کوې د مرګي زيری
ماته ولې رالیږې زخمي نظمونه
په ما ولې اوروې دا سوې کوکې
له ما ولې تښتوې اغزن خوبونه

ماته ولې یادوې سوځلې مېنه
ماته ولې یادوې د ابا خونه
ماته ولې هديره هديره ژاړې
ماته ولې راشميرې ماشوم قبرونه

ماته ولې د سپرلې پر لارو ښېې
د نامردو خزانونو چپاوونه
ولې وايې چې پرهار پرهار ژړېږي
د مغرورو شمله ورو غرو کمرونه

ماته ولې راښېې اغزنې لارې
ماته ولې راشميرې زخمي ګلونه
ما کې ولې زوکلوې رنګيني هيلې
له ما ولې کوچوې ښايسته خيالونه

دا پر څه مې تويوې پرديسې اوښکې
دا پر څه مې خوږوې زاړه زخمونه
لا مې ولې مساپر زړګي ته ښېې
پر شنيليو د سکروټو کاروانونه

* * * *

ماته مه وايه چې سوځې لوړې څوکې
ماته مه وايه چې شاړې يې درې دي
ماته مه ښيه د بورې مورکې اوښکې
ماته مه وايه چې تشې يې حجرې دي

ماته مه وایه چې چیغې زندانې سوې
او لا اوښکو ته لویدلې زولنې دي
د تیارې د ښامار ژامې لا خړپیړي
لیونتوب ته په کمین کې جیلخانې دي

ماته مه وایه چې ګونګې په رباب کې
د هر غوږ سره اشنا مستې نغمې دي
د چا ګوتو کې شهباز لمبه لمبه دی
د مطرب ستونې کې وچې زمزمې دي

ماته مه ژاړه له تورو تورو ورځو
ماته مه وایه چې سپینې د چا شپې دي
زه پوهیږم چې وطن وطن شهید دی
ماته مه وایه چې ډکې هدیرې دي

* * * *

زما ایمان وایي چې بیرته به سپرلی سي
د زاغانو پایکوبونه به رسوا سي
له یخنیه توریدلې توتکې به
لکه تللې په سیلونو بیرته راسي

بیا به ناڅي په لاسو کې ګیلاسونه
هر ګلبوتی هره ځانګه به سوما سي
بیا به مستې په شپیلۍ کې وي سندرې
مرور قسمت به بیرته را پخلا سي

بیا به ځغلي محتسب تپو تیارو ته
زمور اغزنې اوږدې شپې به را سبا سي
بیا به ریږدي د اتن له زوره ځمکه
هوسونه د غماز به نیمه خوا سي

زه او ته به د زمان سندرې وایو
د هر بزم زمزمه به زما او ستاسي
بیا به شنې پیالې وي ډکې له سرو میو
د حمید د ترانو دور به بیا سي

زما له خولې ورکه پیغام شینکي آسمان ته
چې به ختمه پردې مینه کربلا سي
نور به نه راځي پر مور یاغي موجونه
توپاني به د رقیب د بیړۍ خوا سي

۷ - ۱۳ - ۹۱

غزل

آسمانه بیا لکه چې نوې افسانې جوړوې
چې سر پر سر مې پرهارونه پر سینې جوړوې

که دې مجنون د تورو زلفو رابللی نه یم
وایه حلقه پر حلقه چاته زولنې جوړوې

خونې منګول دې شاهدې د فیصلې ورکوې
د غمازانو په خوله ولې بهانې جوړوې

شیخه آخر به سې رسوا د مېفروش پورونه
تر څو به پټې په خلوت کې میخانې جوړوې

در څخه ورکې دې ساقي زما د ازل فیصلې
چې د اغیار د پاره دکې پیمانې جوړوې

اوښکې یې ستا له بې فریاده سوځیدلو نه دي
پټنګه ولې په لمبو کې اشیانې جوړوې

له هر قدمه سره ښخ دې فریادې عرضونه
جنونه څو لا په دې لار کې هدیرې جوړوې

د جهاني رنځورې شپې د ختمیدلو نه دي
طبیبه ولې رقیبانو ته پلمې جوړوې

۷ - ۸ - ۸۹

سندره (اشیانه)

بیا په زړه کې ګرځي زمولیدلې ترانه
یاده سوه بلبل ته سوځیدلې اشیانه

نن مې ژوندي سوي د کلو بیده رنځونه
بیا راته پخلا سول د بیلتون غلیم فوجونه
مات مې سول خیالونه یو په یو دانه دانه

ستړې سولې اوښکې ګریوانه ته په مزلونو
ورکې کړلې لارې لیونیو تدبیرونو
سوال مې د طواف دی راته ښیې بتخانه

مینې مې شیرین کړله فصلونه د نکلونو
ماته مې نزله کړه د کوهکن په کلنګونو
خورمه پر سر کانې ته وایمه دیوانه

راغلې تر غوږونو د زخمي نسیم کوکارې
مات یې دي څنګونه د رویبار پورته چیغارې
اور دی لګیدلی په خلوت او میخانه

بیا مې ارماني وزر په دام دي کښینولي
بیا مې د اقبال د لمر شغلې ترندې نیولې
خضر د چینې پر غاړه وکړه بهانه

بیا مې سوځوي د دوزخي مینې یادونه
بیا مې له مستیه خمار اخلي کساتونه
راکړه د قسمت ساقي نسکوره پیمانه

بیا پر ارمانجنو لارو ورکې سولې کډې
ځي د جهاني رنځورې هیلې ګډې وډې
بیا د ښامارانو په نامه سوه خزانه

ویرجینا ، ۸۸ - ۵ - ۲

غزل

په ژوند مې نصیب نه سوې جنازې ته دې درځم
د یار د وصل خیاله هدیرې ته دې درځم

یوه تشه وعده یې د ځوانۍ په بیه غواړم
سوالګر نه یم آسمانه چې کاسې ته دې درځم

مسم چې تر منزله یې سکروټې دي کرلې
دا لار په ما ودانه ده کوڅې ته دې درځم

یوه لحظه دې مخ له رقیبانو پټومه
لمبې خاموشه نه سې تماشې ته دې درځم

دا ستا د مینې اورد ی چې محفل رنګینومه
پانوس رنګه بلیږم بدرګې ته دې درځم

افسانه

یو ورځ به زما او ستا د مینې کیسې
لکه خزان را رژولې پانې
لکه زیارت کې لګیدلې سوځیدلې شمعې
لکه ماشومې هیرې سوې سلګۍ
د خلکو هیرې وي او وړې به وي
د زمانې توندو وحشي بادونو
د دغه سیند پر غاړه
د دغې ګارې ترڅنګ
چې همیشه د یوه بل په غیږ کې
د زمانې له بدو سترګو لیرې

کله کیسې ، کله ګیلې ، کله قولونه کوو
نورې به زمونږ د پلونو نخښې نه وي
پیړۍ به تیرې وي
او بیا به دلته
د همدې ګارې ترڅنګ
د بلې مینې افسانه جوړیږي
او بیا به ستا په شانې ښکلې نازولې نجلۍ
د چا په غېږه کې خوره وره وي
قسمت به هم لکه چلباز جادوګره بوډۍ
د هر غروب سره وعدې د سباوون ورکوي
د سیند پر غاړه به د ګارې ترڅنګ
حُبي راځي
خو د نسیم سره به
ملګرې نه وي زما او ستا زمزمې

۸۹ - ۳۰ - ۱۰

ابلیس وخندل

خالق دا ښکلې دا رنګینه مځکه
د هسکو غرونو د لعلونو د سیندونو سره
انسان ته وبخښله
او په سینه کې یې ورکیښودله خپله مینه
خو ده په زړه کې د شیطان په لمسه
د سرو او سپینو او د خاورو مینه وروزله
د همدې مینې په خاطر یې د ورور وینې توی کړې
د فرشتو له سترګو اوښکې راغلې
او شیطان ومسیدئ
د همدې مینې په خاطر یې اولسونه ایل کړل

د يوه لوی سپه سالار په نوم پوځونه جوړ سول
مځکې يې لاندې کړلې
جونګړې ونړيدې
د سرو او سپينو خزانې جوړې سوې
سپه سالار له خپله ښاره کلا وګرځول
او د بل ښار د خزانو په طمع وخوځيدئ
توري را ووتلې
چړې په وينو سولې
سرونه ورغړيدل
کلي لمبه لمبه سول ښار او کوڅو اور واخيستئ
سپه سالار ښځې له ښاره څخه ليرې يوړې
او په تاوده يې کړل د سود او د سودا کونجونه
کتار کتار ځولنان يې ودرول
د ټولو زړونه رپيدل سترګې يې هيبتې پاته
او يو ګړی را وروسته
د لوی پيشوا په حکم
لکه برګونه د خزان سرونه ورژيدل
فرشتو وژړل شيطان له خوښی ونخيدئ
پيړی پيړی د جنګ لمبو ښارونه وسوځول
د بې خبرو د ناپوهو خلکو
د بريتورو د غښتلو اتلانو
د زمرو په وينو

د غرو لمنې د ښارونو کوڅې ورنګیدې
او یوه شپه څه کرغیړنې شیطاني وسوسې
د کوم ظالم سپه سالار و زړه ته لار پیدا کړه
فوج یې را وباله لښکرې یې راجمع کړلې
او د دښمن د ستر معبد خواته یې مخه کړله
د فرشتو زړونه بیا ورپیدل
او پر شیطان له خوشالیه جامې تنګې سولې
سپه سالار د خوني فوجه سره
په لار کې کلي ، درمندونه لوې ښارونه چور کړل
هر څه یې وسوځول
د غرو لمنې بیا په وینو سرې سوې
دښتونه ورنګیدل
هډیرې ډکې سولې
له ښاره پورته سوې د ښځو ماشومانو چیغې
او د پوځونو له هیبته محکه سره تبې سوه
سپه سالار لکه خوني ځناور
سترګې یې سرې وې غړومبیدې له قهره
ایستلې توره د معبد پر لورې وخوځیدې
او هلته پرې سول پر سجدو باندې پراته سرونه
یو ګړۍ وروسته معبد ونړیدې
د خدای پر مینه لمبې وخړخیدې
د لیرې لیرې هیوادونو د بچو سینو کې

د انتقام بخړي وځليدل
د هر يوه په زړه کې
د تل د پاره د غضب اورونو ځاله وکړه
په آسمانو کې د ملکو ساندې پورته سولې
او د ابليس له کوره راغلل د قاه قاه زغونه

۹۲ - ۱٤ - ۱۲

تصویر

سړه د ژمي شپه ده زه ستا له یادونو سره
لکه ماشوم په وړانګو لوبې کوم
ستا د تصویر مخې ته ودریږم
او دا یوه لحظه دې خپله کمه
هلته سینه کې غولیدلی زړګی وخوځیږي
او پردې مینې ته ټوپونه وهي
تصویر ژوندی سي سترګې ورپوي
پر شونډو بیا ګرځي زاړه قولونه
بیا د سبا د لمر ختو په طمع
شپه تر سهاره شمعې ولګیږي
سترګې سوځي
خو یو ناڅاپه د تصویر له سترګو

د ژوند او مينې رڼا وتښتي
قولونه مړه سي
زه او تصوير پاته سو
او زړه هم نه وهي زاړه ټوپونه
دواړه لاسونه ليونې لاسونه
بې ارادې د تصوير خواته ځغلي
تصوير څيري او ژمنې سکروټې
لمبه لمبه کې د کلو خيالونه
لا يې لمبه په سترګو وينمه خاموشه نه ده
لا د تصوير بې نوره سترګې زما پر لور کړې دي
چې په سينه کې مې د زړه په تل کې
ستا له تصويره سره مينه نوې اور بلوي
او په رګونو مې بخړي ګډ سي
نور دې تصوير ته هم کتلای نه سم
يوه لحظه دې خپلولای نه سم
او دا د ژوند سره ملګرې لمبې
دا په رګونو کې ژوندي بخړي
دا د تيارو دا د رڼا ملګرې
ستا د خيالونو له محله سره
ـه تصويرونو رويبارې نه کوي

۱۲ - ۳ - ۹۲

تیاره سباوونه

رویباره رنګه سوه د هیلو خونه
چې دې پرشونډو کیسه ورانه سوله
پوه سوم د وصل لارې بندې سولې
زما د نصیب وعده پښیمانه سوله

دا زخمي زیری به لا څو پټوې
رویباره سترګې دې رازونه وایي
د سحر باد یې جنازې راوړلې
نسیم په سرو سترګو ویرونه وایي

رویباره تاته سباوون سنکاریږي
زما یې د خیال نیمګړې شپې ماتې کړې
ته یې له سترګو نوی زیری غواړې
زما په لېمو کې یې لشې ماتې کړې

زه د غروب په سترو سرو سترګو کې
د خپل ازل رنځور خوبونه وینم
په الاهو کې وعدې مه راکوه
زه یې پخوا لا تعبیرونه وینم

هغه دي پورته سوې لمبې له کلي
هغه دي ورانې سوې کوڅې د جانان
په لاله زار کې خزان وغوړیدئ
د ګلو سنبار ته ورشیوه سول زاغان

هغه دي څاڅې له شهبازه وینې
د مطرب ګوتو کې نغمې سوځیږي
ټولې ټولې فرشتې والوتلې
فتنې به اوس په سنبار کې ونځیږي

اختيار يـې له اقـرار سره جـوړه راځخه يوور

يو نـــذر د خـلـيـل يمـه چـړې ته دې درځم

سنگسار مې رسنوا نه کړې ميخانې د خلوتونو

يو شور لا جـوړومه غـرغـرې ته دې درځم

د هوښ پر لارونه دی جهاني منزل د وصل

جنـونه حُـان تيـارکه زولنې ته دې.درځم

ويرجينا ، ۹۳ - ۱ - ۳.

شپه د سهار په غيږ کې وغوړيده
زريني وړانګې رخصتونه غواړي
د ښار په منځ کې بلا لنګه سوله
باج کښې زلميو نه سرونه غواړي

شيطان خيرنه غاړه هسکه کړله
پر تورو شونډو يې موسکا پيدا سوه
د غره پر سر يې وزر وغو ړاوه
د سترګو اور کې يې رڼا پيدا سوه

رويباره خله مې زګيروي ويدوې
د زړه په تل کې مې زخمونه ژاړي
راته اميد د سبا مه راکوه
خوږمنو سترګو کې خيالونه ژاړي

دا زما په برخه ليکل سوې اوښکې
پاس په لېمو کې د ساتلو نه دي
زما په قسمت کې رسيدلې کوڅې
د ستنيدلو پرېښودلو نه دي

۳ - ۳ - ۹۳

تنهايي

زما څخه ليرې نه سئ خلکو ما يوازی نه کئ
چې زما د شپې زما د تيارو ملګرو
زما نابللي زما اغزن خيالونه
پر زړه تياره راولي
ما زوکلوي ، ما ويروي
او په تيارو کې راته
زاړه دردونه ويښوي ، نوي زخمونه کړي
زه چې يوازې سمه ستاسی په څير
په ويښو سترګو جنتي خوبونه ، نه ګورمه
زه د پاولیو شرنګې نه اور مه

زه په تش لاس کې پیالې نه کړنګوم
زه د بوډې په تال کې نه زانګمه
زه چې یوازې سمه
لویه نړۍ را باندې تنګه سي د قبر په څیر
او بیا اغزن خیالونه
لکه د قبر د چینجیو لښکر
زما په بې واکو ماغزو خولې لګوي
زما نه ژوندون او سباوون هیروي
ماته مرګي ماته پرون یادوي
ماته سایې د جلادانو ښیي
ماته راښیي سرې ککړې توري
د چا زخمي زخمي سلګۍ اور مه
او له یو شړك سره فریاد پورته سي
وایمه چیغې کړم ګریوان وشلوم
د خدای د پاره ډیوې ولګوئ
زما څخه لیرې مه ځئ
زما تنهایي ماته د تیرو شپو کیسې راولي
تللي یاران هیرې سایې راولي
او بیا مې اوښکې د نامرادو مینانو په څیر
د وچیدلو نه وي
زه له پرونه تښتیدلی یمه
بیرته ورتلونکې نه یم

پرون په خوب کې لیدل نه غواړمه
او چې یوازې سم پرون ته ځمه
زما څخه لیرې نه سئ خلکو ما یوازې نه کئ
زه شاعر نه یم چې یوازې سم غزل ولیکم
زه مین نه یم چې د زلفو په ټال وزانګمه
زه مطرب نه یم چې خیالي سورونه وشرنګوم
زه چې یوازې سم د تللیو آوازونه اورم
زه چې یوازې سم تیارې وینمه
د خدای د پاره ما یوازې نه کئ
دا ډیوې ولګوئ ماته ډیوې بلې ساتئ

ویرجینا ، ۹۲ نوامبر

جلوه

زه رباب ته مې شهباز يې
زه نغمه يم ته مې ساز يې
زه مقام يم ته مې سور يې
زه آهنګ يم ته آواز يې
ته لمبه يې زه دې شمع
زه پتنګ ته مې پرواز يې
زه مجنون ته مې جنون يې
زه محل ته مې ممتاز يې
ته مې سر د ليونتوب يې
ته زما د جنون راز يې

هم ناظم يې هم مې نظم
ته هم سوز يې هم ګداز يې
زه له کومې فنا تښتم
چې انجام ته مې آغاز يې
دا د کومې پيالې بنګ دی
چې نشې پکې مستيږي
دا د کومې نغمې شرنګ دی
چې شهباز پکې نخيږي
دا د کومې سلګۍ اور دی
چې لمبې پکې ويليږي
دومره پوه يمه چې ته يې
هم وجود يې هم جلوه يې
تصوير ستا د جمال زور دی
محفل ستا د لمبې شور دی

واشنګټن ، ۹۳ - ۱۵ - ۱

غزل

دا ډير کاږه کاته به دې ايمان لره بلاسي
زاهده هسې نه چې خلوتونو ته دې شا سي
پرون دې له محرابه پښې پر بله خوا کړې سوې
بيريږم دې کوڅه کې دې لمونځونه نيمه خوا سي
نيمګړې اشارې دي شيخه سر به سره ساتو
جنون مې يا غې نه کې کنه چيغې به رسوا سي
سکون دی که توپان دی عقل نه ويني په سترګو
منزل يې معجزه ده چې مجنون پکې ليلا سي
مستي ده ليونتوب دی صراحي راسره څرخي
معذور يم که له لاسه مې پياله نيمه خطا سي

بیګاه مې سوځیدو ته غلې غلې ژړیدلې
لمبه خاموشه نه کې چې هستې به مې تالا سې
ګریوانه لا یې غوارې د سوالګرو اوښکو لپې
د سترګو په کچکول کې مې د ټمې ځای پیدا سې
منظور سو جهاني د لیونیو په ټولې کې
نصیبه له زندانه به دې نن پورته غوغا سې

ویرجینا ، ۹۳ - ۱۲ - ۲

د مایا انجیلو د انګریزي شعر پښتو ترجمه،د امریکا جمهور رئیس بیل کلینټن د تور پوستي شاعرې مایا انجیلو څخه وغوښتل چې د ده د جمهوري ریاست د افتتاحیه مراسمو د ورځې په مناسبت یو شعر ورته ولیکي . مایا انجلیو یو آزاد شعر ورته ولیکئ او په تلویزیون او رادیو کې خپور سو . دې شعر په یو ډول د افغانستان د روانو حالاتو سره اړخ ولګاوه . نو ما هم هغه پښتو منظوم شکل ترجمه کړ .

د سحر وږمې

ګاره او سیند او یوه لویه ونه
چې شاهدان دی د اوږدو کلونو
او اوس د هر یوه له څنګه سره
نښې ښکاریږي د زړو هډونو
د ګاري څنګ ته او د سیند پر غاړه
پلونه پټ کړي د زمان ګردونو
نن هغه ګاره هغه سخته ګاره
ناري وهي چې د آدم زامنو
راسئ دا زما پر اوږو ودریږئ
ووینئ لیرې ازلي وختونه

خو زما په سيوري کې به نه پټيږئ
دلته به نه لټوئ پټ ځايونه
خالق پيدا کړاست د ملکو په څېر
خو تاسې عمر په تيارو کې تير کړ
د ورور په وينو مو لاسونه سره کړل
ژوند مو د جهل په شيلو کې تير کړ
دلته به نه پټوئ تور مخونه
ماته به نه راوړئ خيرن لاسونه
د دې جهان په يوه ليرې کونج کې
د شنو او صافو اوبو سيند بهيږي
سيند د زمان ښکلې سندره بولي
غواړي انسان يې څنګ ته واوسيږي
سندره وايي خو په وينو ژاړي
په خپلو څنډو کې قتلونه وينې
پر خپلو شنو پر خپلو صافو اوبو
د انسانانو مات هډونه وينې

سيند وايي مه سوځئ ودانې خونې
زما پر ښايسته غاړه کورونه جوړ کئ
زما پسته غيږه ستاسې ټولو مال دی
دلته کې واوسئ ملکونه جوړ کئ
زه به هر وخت په خپل خواږه آواز کې

پایکوب

زمونږ يې لاسونه په ګناه ولړل
دوی د زنار غوټې شلولی راته
مونږ يې د جام نوبت په خم واړاوه
دوی د دوزخ ناري وهلې راته

زمونږ د مستۍ ناري آسمان ته ختې
ساقي سيراب د تږو زړونو کاوه
زاهد د سترګو تر کونجو کتله
ده لا حساب د ګناهونو کاوه

درته سندري د زمان بوله
په خوارۍ ږغ کې چې خالق راکړي
کيسې د مينې او انسان کومه
زه به د هغه وخت سندري بولم
چې لا په وينو نه وو سره لاسونه
د انسانانو پر تندیو باندې
نه وه د قتل خونړي داغونه
د سيند پر غاړه يوې لوبې ونې
په مينه وزنګول شنه ښاخونه
ويل يې هير کئ د آدم زامنو
ژبه مذهب او دا د پوست رنګونه
راسئ را ټول سئ زما تر سيوري لاندې
ستاسې دې ګاري سيند او شنه برګونه
يو ځلې سترګې کئ په مينه رونې
دغه ښايسته سهار ته ومسيږئ
يو ځلې هيرې کئ زړې دښمنۍ
د يوه بل په غيږ کې وزنګيږئ
يو ځل د خويندو او دورونو په څير
په مينه وګورئ او وخندیږئ
ګاري او ونې او سيندونه خپل کئ
دا ساړه سيوري شنه ښاخونه خپل کئ

۱ - ۲۵ - ۹۳

د شنو ښاخلو کوډله

لکه ماشوم په لویه لار کې ناست یم
د خاورو کور جوړوم
یوه کلا ورکې هم بله کلا
او د کلا یوه ګوښه کې چیرته
د ټولو خلکو له نظره لیرې
د یوې ونې شاته
د شنو ښاخلو کوډله
او د خیالونو په دنیا کې
له غمونو لیرې
د بیلتانه او د جفا نومونه

د خپلې مینې په لمبه سوځوم
در نیږدې کیږم درنه خوله غواړمه
ته هم د سترګو لاندې
او په موسکاګۍمې دربولې څنګ ته
د دریو څلورو لارویو ډله
زما د خیالونو له نړیه بیګانه وګړي
د شنو ښاخلو پر کوډل پسلونه ایږدي
زما د خیالونو له جنته هدیره جوړوي
او بې پروا رهي دی
لا یې د مستو خنداګانو آواز
په غوږو اورم
چې له سره څخه
له خپله ځانه بیخبره غوندې
د خاورو کور جوړوم
یوه کلا ورکې هم بله کلا
او د کلا یوه ګوښه کې چیرته
د ټولو خلکو له نظره لیرې
د شنو ښاخلو کوډله

۱۲ - ۹ - ۹۰

د غرور څلی

دا منمه چې مې مینه پښتنه ده
دا منم چې لیونتوب مې ازلي دی
هره شپه مې ستا له خیاله سره تېره ده
هر یو خوب مې ستا په یاد کې زنداني دی

خو بیرېږم که دې بل څلې جواب کړم
دا مغروره ککرۍ به مې یاغي سي
نور به نه پالي سینه د چا یادونه
او زما پلونه به دې لاره کې پردي سي

هسې نه چې مې د شعر معبد وران سي
هسې نه چې دا سجدې مې بيګانه سي
مرور مې له خيالونو سي خالونه
لا مې ماته د نظمونو زولانه سي

ځکه زړه کې نړوم د غرور څلی
او خوبونه غولوم ستا په خيالونو
که ته نه يې نو يادونه خو مې خپل دی
زه مالك يم د ايستلو تصويرونو

۸ - ۲۶ - ۹۱

د مرغلرو امیل

د پسرلي په یوه سبکلي سهار
چې غوړیدلې وي پر مځکه د مستیو لمن
چې د خزانه بیخبره بلبل
زمون د کړکۍ مخې ته
په نازولو په نازکو په بیصبره پنجو
د سرو غوټیو ګریوانونه څیري
د پسرلی په یوه سبکلي سهار
چې شیخ پرې ایښې وي د ذکر کیسه
چې د زاهد پر شونډو ګرځي د خیام ترانې
په مرغیښو څاڅکو

پرخې پريولي وي غاښول او ګلاب
زه به راځم او ستا په غاړه کې به هار اچوم
هغه چې تل دې غوښتئ
هغه چې ډير دې خوښ و
ستا د خوبونو ستا د هيلو اميل
پر سپين بارخو به دې راتوی سي له خوښيه اوښکې
دانه دانه به رغړي
غيږ به دې وغوړيږي
ما به دربولې څنګ ته
خوښي او بېړه به دې پاڅي له خوبجنو سترګو
خوښي د سپينو مرغلرو د هار
او خوښي زما د ليدو
بېړه مرموزه بېړه
د بيلتانه خبرې
د جدايۍ اندېښنه
غيږ به دې وغوړيږي
ما به دربولې څنګ ته
خو زه به ليرې يمه
د تندر ږغ به دې راويښه کې له خوبه څخه
او زما پر قبر به باران اوريږي

٨٩ - ٢٤ ٩

د مورچل ځوانه

ځوانه دا څوك يې چې ګولۍ اوروي
د خپل نيکه او د ابا پر کلي
دې هديره کې دې خپلوان پراته دي
څوك يې پرون څوك يې پخوا ويشتلي

بيا غاړه کې د مردکيو ډکه
بيا دې اوږې له راکټونو درنې
بيا دا هاړ تږی مورچل ته درومې
بيا دې پر سترې مخ را ماتې خولې

بیا لکه باز پر لوړو څوکو ګرځې
بیا دې میدان ته سترګې سرې نیولې
پر کومو مخکو به مرمې اوروې
کومې خوانۍ دې په قسمت لیکلې

دلته چې ته پر ماشه ګوته ایږدې
هلته له مخکې نه اورونه زیږي
ستا د ګولیو د باران له وهمه
اوس پر دښتونو غوټۍ نه سپږیږي

له هرې لویشتې جنازې را پاڅې
د مرګې چیغو کلی کور اخیستی
پر شنو جلګو باندې دودونه ګرځې
خوانه خبر سوې کابل اور اخیستی

د خدای د پاره خوانه مه اوروه
د خپل ابا پر مینه سره اورونه
پریږده وراره دې د ابۍ غیږه کې
ووینې ګرم او ماشوم خوبونه

پریږده چې بیا دا سوځیدلې دښتې
د پیغلو څنډو ته ګلونه راوړي

د غم له ساندو ستړي سوي کوڅې
بیا اټنونو ته ډولونه راوړي

پریږده چې بیا د شنه آسمان پر لمن
سپوږمۍ ته ستوري امیلونه راوړي
بیا د آدم رباب نغمې ویښې کړي
د مینې خوب ته تعبیرونه راوړي

بلا دې واخلم میړنیه ځوانه
پریږده مورچل دا د خونیانو ځالۍ
دا ستا د پلار ستا د ټبر قاتلان
دا د رهزنو لوټمارانو ټولۍ

ستا د ښادۍ د غلیمانو زړونه
په تباهیو باندې نه سړیږي
دا د پردیو پر کاسو لوی سوي
زموږ بیګانه په وینو نه مړیږي

پریږده چې سره کې د قدرت لیونې
په بیګانه وینو خیرن لاسونه
ته له مورچله ګولۍ مه اوروه
ځوانه واړی دې سم کاږه بریتونه

ویرجینا ، ۹۳ - ۱۱ - ۲

دوی لا خبرې د کوثر کونې
مور د خیالي جنت قصرونه وران کړل
دوی یې په تشو پیالو وغولول
مور یې د میو ډک خمونه وران کړل

دوی په کوډل کې وزرونه خلاص کړل
مور ته زندان د الوتلو نه و
دوی له نرې بارانه وتښتیدل
مور ته سیلاب د ټینګیدلو نه و

مور د آزادو الوتو په خاطر
دلته قفس کې وزرونه مات کړل
چا د زندان پنجرې ماتې کړلې
چا په سوکونو کې لاسونه مات کړل

مور د یوې مستې شیبې په خاطر
ځان د ګرداب و بدمستۍ ته ورکئ
د دې اوږده مړاوي ژوندون عوض مو
یوه ګړۍ و پایکوبۍ ته ورکئ

۱۹۷۵ مارچ

د هستۍ مستي

پريږدئ پريږدئ زما لاسونه زه اورونه په لړمه
زه په سوي مذهب پوهيم زه دوزخ ځانته کرمه
زه د خضر چينه سوځم نړوم د کوثر غاړې
زه له مړه ژوندونه مور يم ما ژوندی لحد ورغواړي
زه د مست گرداب په غيږ کې لا موجونه ويښومه
زه په ستوني د ښامار کې مرگ له خوبه پاځومه
زه په زړه د جهنم کې انگارونه لټومه
اهريمن را پارومه لا يې ځانته قهرومه
پريږدئ پريږدئ زما لاسونه زه اورونه په لړمه
زه په سوي مذهب پوه يم زه دوزخ ځانته کرمه

پریږدئ رونې دا تیارې کو پریږدئ پڑ کو دا مزلونه
ټول په ګډه سره لمبه سو او روښان کو رباتونه
راځئ لندې کړودا لارې ورهو ارکو کړلیچونه
د ژوندون د پاره ومرو خو ژوندي کړو لحدونه
په دې هیرو خرابو کې د هستۍ مستي آغاز کړو
دا د مرګ شیلې رنړاکو پکې کوك د ژوندون ساز کو
زه شاعر یم د دې مېنې زه سکوت ورماتومه
زه هاتف د ژوندۍ چیغې زه دا مړي ویښومه

اګست ، ۱۹۷۹
کابل، خیرخانه مینه

د هنر تېشه

که زه شاعر نه وای
مین نه وای
ستایلای مې نه
نو ته به چا ستایلای
دا خو دا زما د مینې اور و چې لمبه لمبه سو
ستا د جمال ډیوه یې بله کړله
او له تیارو څخه در واوښتی زلخوړې سترګې
دا خو دا زما چیغو شنوا کړله کانړه غوړونه
دا خو هم زه وم چې مې گرم کړل ، رنګین مې کړله
ستا محفلونه

د وفا او د جفا نکلونه
زما د هنر تېشې دې پښو ته کړل کاږه سرونه
او نن دا زه هم
د څو نورو ببر سرو په څېر
تېشه په لاس قلم په ګوتو سرګردانه ګرځم
خو لا دې هم ستایمه
او لا ماشوم زړه غولوم لا دې د ځان بولمه
ته دې د شمعې په څېر ولګېږې
او ما به سوځې سرابې خیالونه
ته دې بلېږې ستا لمبه خو د وژلو نه ده
او د هنر تېشه مې
هغه تېشه چې ته یې وتراشلې
او ستا تر پښو به یې سجدې بللې
څه جوړولای سي تراشلای یې سي
هغه د بت او بتخانې د ړنګولو نه ده

ویرجینا ، ۸۹ - ۱۲ - ۱۰

دوه رنګي

د خلقت په قافله کې نا آشنا جرس ږغيږي
هر ربات يې معمٰی ده هر آشنا قدم ورکيږي
د هستۍ مطرب سور کړی د ورك نومي ماتم ساز دی
هر آغاز د انجام زيری هر ژوندون د مرګ آغاز دی
د هر بزم په پايکوب کې د سر کوب نخښه ويده ده
هر کوثر د زهرو خم دی هر جنت پټه لمبه ده
عزرايل دروازه وان دی پاس د عرش په بنګلو کې
جبرييل څخه لار ورکه د قدرت په آسمانو کې
د ريا پر منبر ناڅی د شيطان زاهد مکرونه
د ابليس له غيږې پاڅي هم سجدې هم تکبيرونه

چې پرون يې روح ايره کړ د بتانو په سجدو کې
نن يې اوښکې دي کړلې د خلوت په تاريکو کې
د زمان آهنګ بې سوره درې وړې زمزمې دي
يا غې سوی يې شهباز دی ماتې کړی يې نغمې دي
د ګناه ښامار اغوستې د ثواب سپينې جامې دي
د تسبيح دامونه لاس کې رنګ په رنګ پکې دانې دي
په ناره دا لاالله‌دي مينوشان تړي حلقونه
له خرقې څخه راوزي د ساقي د زوی لاسونه
پرونی صنم پرسته د کعبې کړي طوافونه
ابراهيم له خلقو ورك سو د آذر لاس کې تبرونه
هرڅه هرڅه مکر مکر هرڅه هرڅه دوه رنګي ده
هره اوښکه کې تزوير دی هره سترګه شيطاني ده
عقل ورکې کړلې لاړې جنون پريښودل دښتونه
هرې سپينې تور اغوستې پکې نغښتې دي رازونه
د خودی په شبستان کې د لار ورکو ګمراهي ده
په ړندو هڅو مينډلې چا خودي چا بيخودي ده

پيښور ، ۸۳ - ۱ - ۱۸

راکټ

شپه ده سړه د ژمي تورې شپه ده
او د یخنۍ د بلا تورې ویرونکې څیرې
د سنبار له لارو کوڅو
او د کورونو څخه ساه ایستلې
هلته کوڅه کې وارخطا ګامونه
او چیرته لیرې د څو سپیو غپا
د ریږدیدلو او غمجنو انګولاووسره
د شپې پر سترګو بانه ورپوي
هوسۍ لا ویښه ده ، د مور په غیږ کې
د اباجان د راتلو زیری اوري

او پر سرو شونډو يې موسکا نخښږي
بيايې په تورو ښايستو سترګو کې
د ورکو هيلو رڼا وخلږي
چې يو ناڅاپه د ميرويس له چيغو
هوسې د مور له غيږې وخوځيږي
د ويښو سترګو د خوبونو نړۍ ونړيږي
د اميدونو او خيالونو لړۍ
لکه مستيو کې شليدلی امپل
له غاړې ولويږي دانه دانه سي
مور دوه بې واکه دوه رنځور لاسونه
تپروي ، او هوسې بيا راپاڅي
د هرې شپې په رسم
ميرويس ته وايي پخوانۍ سندره
د ابا جان د راتلو نکل کوي
بيا دروازه تړکيږي
بيا هوسې درومي او په چيغو چيغو
مور باندې زيری کوي
بيا هغه تللې ، مساپره ، مهربانه څيره
تور او ښايسته بريتونه
بيا هغه دنګه ونه
له ډکې غيږې سوغاتونو سره
کور ته راځي ، هوسې په غيږ کې نيسي

او د میرویس پرمخ ، پر سترګو ، پر نازکه خولګۍ

مچې اوري

هوسۍ سندره ویل

ژړا کراره سوله

چې په تورتم کې هیبتناکې ډزې

پر نازولو ، پر سورکیو ، پر نریو شونډو

د تل د پاره نغمه وسوځـلـه

او راکټ خپله سینه یخه کړله

ویرجینیا ، ۹۲ - ۸ - ۳

رسم

کله يې سترګې تورومه ورته
کله يې شونډې سرې کومه ورته
کله يې زلفې غوړومه پرمخ
او بيا د شونډو ترڅنګ
له توره خاله څخه
دانه دانه کړم ليږې
يا خو خيالونه يا غې سوي دي نن
يا خو په مينه کې کمې راغلی
او يا بد رنګې مينې
يا بې وفا ليونتوب

غزل

پیالې نسکوروم دې تشومه خو دې نه
نصیبه بدلوم دې قبلومه خو دې نه

تقدیره زولنې دې د جانان تر کوڅې وړمه
زندانه نړوم دې تیرومه خو دې نه

ازل مې لیونتوب دی له نامه سره کړلی
ګریوانه څیروم دې ټولومه خو دې نه

د سر سودا منمه خو چې سر ټیټول غواړي
قاصده ستنوم دې ورلیږمه خو دې نه

خالق مې ککړی سجدې ته نه ده پیدا کړې
تندیه ماتوم دې لګومه خو دې نه

ځانته له ځان سره سجدې پیل کړې
چې نه د زلفو عنبرینه وړمه
نه د باغو له لاندې غلي کاته
نه له رازونو له نازونو مالا ماله خولګۍ
زړه په درزا راولي
نه ستونۍ وچ دۍ نه خبرې هیرې
او نه مې ټول وجود خوله خوله دی
چې یو ناڅاپه د خیالونو لړۍ
لکه د غاړې هار دانه دانه سي
زه رسموم په بې هنره لاسو
پر سپین کاغذ کاره واړه شکلونه

غزل

رنځور قسمت مې ویښې شپې راوړې
راته رویبار نوې پلمې راوړې

آسمانه وګوره پَخلا سو نصیب
نن مې کوڅې ته میخانې راوړې

رویباره سترګو دې کیسې وکړلې
څوك مې کوثر ته جنازې راوړې

مرګیه پټې که نامردي سترګې
ژوند په حباب کې پیمانې راوړي

جنون د شپې جیلخانې ماتې کړلې
د عقل کور ته زولنې راوړي

کاروان د اوښکو سمندر ته درومي
د غاړې هار ته دې دانې راوړي

چې مې پر قبر مینوشې ته راځې
د صبر درخته مې میوې راوړي

د جهاني توبه منظوره سوله
ساقي خمونه شکرانې راوړي

غزل

راهده تا مې د تقوا په نوم نشې ماتې کړې
ما ډې د حورو د خوبونو سلسلې ماتې کړې

ته د دوزخ له وهمه غلی کړی شپه ژړیدې
ما د کوثر په مستو هیلو کې پیالې ماتې کړې

ته یې له قهره له خلوته را وتلای نه سې
ما د کرم په طمع زر ځله توبې ماتې کړې

تا خير وشر ته د حساب هتکړی واخيستلې
ما د جنون په نوم د عقل زولنې ماتې کړې

ته په سجده کې لړزيدلې د حساب له ويرې
ما بې حسابه دروازې د ميخانې ماتې کړې

څوك يې د مينې له زندانه غرغرې ته وزې
چا يې د قهر له هيبته پنجرې ماتې کړې

چا د يوې جلوې په مينه ځوانۍ نذر کړلې
چا په تصوير کې له نقاش سره وعدې ماتې کړې

د جهانۍ محفل ته مه راوړه اغزنې کيسې
مونږ ليونيو په اورونو کې لمبې ماتې کړې

۸۹ - ۵ - ۷

سندره

زما له ساقی سره ازل ایښي پیمان پیمان د مـاتیـدلو نه دی
زړي ګناه ته نوی رنګ ورکئ زمان زمان د پاکیـدلو نه دی
زاهده تاته سوي په برخه خلوتي زولنې د عاقبت اندیښنې
ماته جانان دي رامنلې بل زندان زندان ستا د لیدلو نه دی
شیخه تازه دې کړل په زور سارې سارې اورونه هیر د ګناه یادونه
د صبر فوج مې ماته وکړه پر میدان میدان د ستنیـدلو نه دی
بیده نصیب راته ویښ کړل الستی غمونه زما د قسمت زخمونه
نه مسیحـا نه یې لقمان لري درمان درمان د رغیـدلو نه دی
د زړه په تل کـې لـمدونه دي د ځوانې وینې دځـوانیمـرګې مینې
د هیلو شناختې مې ولاړې پر ګریوان ګریوان د پـتهیـدلـو نه دی
خیر دی که نن مې پر جنون باندې غمونه خاندي تر پرهارونو لاندې
د جهاني سره به اوښکې سې آسمان آسمان د ټینګیدلو نه دی

۸۹ - ٦ - ۷

سارانی مینه

ما به ویل چی ما به نه مچوي
ماته په غیږه کې ځای مه راکوه
زما سارانی سینه لا مینې ازمیلي نه ده
پکې د چا د مینې شمع لګیدلې نه ده
شونډې مې هم لا د ماشومو په څېر
د چا تودو شونډو لیدلې نه دي
زه پوهیدم که مې سینه کې یوځل
د چا د مینې لمبه بله سوله
زه پوهیدم که مې غوږونو یو وار
د چا د مینې وعده واخیستله

بیا مې اورونه د وژلو نه دي
بیا مې وعدې د ماتولو نه دي
خو ته هغسې نه وې
ته زما په شانې سارانې را لویه سوې نه وې
ستا بازاري ستا سوداګري غیږې
یوازې زه او زما مینه لوبولې نه وو
معصومو سترګو دې وعدې د مینې ډیرې کړې
نازکو شونډو دې زر ځله په وفا لوړلې
ته به زما نه سې ، نه به زما مینه د ځان وبولې
خو زما په زړه کې لګیدلې شمع
د بلې مینې په اور نه سوځیږې

۱۰ - ۱٤ - ۸۹

غزل

ساقي داسې مستي غواړم چې توبه مې په توبو سي
چې مې عقل ليونی سي چې احساس په غلبلو سي

رانه هيرې څو لحظې که د دنيا ورانې ودانې
رانه پټې څو شيبې که د زاهد سترګې شيطانی
داسې اور مې په رګو که چې مې وينه په نارو سي

ساقي جار دې ترلاسو سم درواری دې سم جامونه
سر پرسر يې راته راوړه نن يې هير که نوبتونه
د خيام کوخې ته ځمه چې دوزخ په اجارو سي

نن له هرڅه بيګانه يم نن له رنګه راجلا يم
منصورې مستۍ راخيستی هم مجنون يم هم ليلا يم
ترهغو به دا مستي وي چې وی وی د زولنو سي

مرګه پرېږده ستا خبرې مالا نوې لار پيدا کړه
ما د هوښ نيمګړې برخه له جنون سره سودا کړه
جهاني ته مهلت ورکه چې ميلمه د پنجرو سي

۱

سبزه کوب

دا د مستو پسرلی دی دا د اور سبزه کوبي ده
هره پانه خماري ده هر ګلاب مو شرابي سو
د ساقي د سر خیرات دی د زاهد د مړینې نذر
هر پایکوب یې ځي سقر ته هر فریاد یې آسمانی سو
د سینې په خلوتګاه کې د خاموشې غوغا شور دی
زیر او بم پکښې ږغیږي هر شهباز یې فریادي سو
راایستلې توره راغی د ساقی د وینو تږی
زمور مستي چې یې لیدله شیخ پخپله خماري سو
د ګناه په خم کې رنګ سول د زاهد د بګړی ولونه
پر هډوکو یې لړزه ده ټینګ ایمان یې شیطاني سو

یاغـي یم د فـریاد د پاره نه یمه راغلی
آسمـانه کنوم دي ژړومـه خو دي نه
د غره پر ژبه غواړم د شیرینې د نوم ذکر
جنونه پاروم دي ویدومـه خو دي نه
زخمونه د حبیب دي د طبیب کوڅې ته نه ځم
پرهاره شوړوم دي رغومه خو دي نه
چې هر محراب ته ځمه ستا جلوه پکې بلیږي
د یار د تصویر خاله هیرومه خو دي نه
چې شمیر د جهاني د ګناهونو باندې کیږي
زاهـده رندوم دي خپلومه خو دي نه

واشنګټن ، ۹۲ - ۲۷ - ۱۲

صف ته راغی د رندانو د اغیارو له ټولیه
مورِ یې زهرو ته بللو خپل سومایې زقومي سو
په موج خیزه هیبت راغلې د فلك سیلابی کړې
زمورِ بیړۍ یې ډوبوله خپل دریاب یې توپاني سو
د خزان له هر سرکوبه سل پایکوبه پورته کیږي
هره ترخه نستون دی هر یو زوز مو ګلابي سو
د توپان حمل یې واخیست غورِ ته ورغله د غرونو
ورکوي د بچي زیری هر آواز یې سیلابي سو
اوروي صدفـي څـاڅکـي ښخـوي د مستیِ تخم
هر نرګس ته یې جام ورکړ هر ګل بوټی یې یاغي سو
شیخه کفر کفر وایه دلته جام پر جام تشیږي
هره پینه دوزخي ده هر نوبت یې کوثری سو
ریږدوي د زړو تارونه د ګناه شیرینه تنده
رنګوي د تقوا غرونه هر کلنګ یې فرهادی سو
پکښې شخول د رنګیدو دی د منبر د ورستو خښتو
هر خلوت صنم پرسته هر مرید یې جهاني سو

کابل ، سرای غزنی
۲ - ۲ - ۱۹۷۸

سفر

دا چې لامبو پکې وهئ پر ورځئ
ملګرو دا د توپانونو لار ده
مرګ دی حملې دي چپاوونه وينې
د زمانې د ازمېينو لار ده
دلته د سر سره به لوبې کوئ
دا د څپو دا د موجونو لار ده

ملګرو څرنګه ورځئ او کنه
ځان توپانو ته ورکوئ او کنه

د اد پیچومو کړلیچونو سفر
په څو ټوپونو ختمیدلای نه سي
دا خندو خار دا د کلونو مزل
په یوه مندې ختمیدلای نه سي
دا پرهر موړ باندې د مرګ زغونه
په تشو چیغو چوپیدلای نه سي

ملګرو ځان تیاروئ او کنه
پر دې موړونو لار وهئ او کنه

د دې تورږمیو تاریکیو پر لار
ځان لکه شمع سوځول په کار دي
د هر قدم روښانیدو د پاره
پر سر اورونه لګول په کار دي
وسر منزل ته د ورتلو په هیله
د مرګ په غیږ کې لوبیدل په کار دي

ملګرو اور دی پر ورځئ او کنه
ځان په لمبو کې سوځوئ او کنه

دلته چې هره څپه وخوځيږي
دلته چې هر ګرداب را وخړخيږي
شپه له سرونو کړي لمنې ډکې
سهار په وريښه ټنډه ومسيږي
دلته به هر غروب د غرو پر څوکو
ستاسې په وينو باندې ولمبيږي

ځان ګردابونو ته سپارئ او کنه
د دې څپو لامبو کوئ او کنه

د سختو ټرو مساپرو واورئ
دا کرليچونه سميدل غواړي
دا د زمان سره پيدا بندونه
له لويو لارو نه ايستل غواړي
يوه هوښيار کاروان سالار ويله
فقط ايمان غواړي تکل غواړي

دا سختې پرښې هواريږي درته
د اميد کرښې څرګنديږي درته

دا یاغي سوی دا بد مسته ګرداب
لا به پر تاسې څرخیدلی نه وي
دا وږی تږی دا خونخوره غروب
لا به په وینو لمبیدلی نه وي
خوني فلك به د سرو سترګو سره
د جنګ میدان ته راوتلی نه وي

چې به کاروان تر دې تیارو را ووزي
د جرس ږغ به یې له غرو را ووزي

دلته یو وخت تر تاسې ډیر د مخه
څو مساپرو تنې تینګې کړلې
د زمانې باد او توپان ورسره
پرله پسې ډغرې ووهلې
غړومبی د تندر وژلې اوریدې
خړې څپې باندې را ماتې سولې

دوی دا درې دا کنډوونه پی کړل
په توپانو کی یې موجونه پی کړل

کابل ، ۱۹۷۵ نوامبر

غزل

ساقي وعده دې له پلمو ډکه ده
ځکه مستي له اندیښنو ډکه ده

پر بیګانې مستي پښیمانه نه سې
زما دې لمنه د خالو ډکه ده

مرګیه ځکه په ورو ورو درځمه
د ژوندون لاره له اغزو ډکه ده

د اجل شپه مې را نیمګړې نه کې
چې زما کیسه له افسانو ډکه ده

ملا په چیغو شپه شړلای نه سې
لا میخانه د پیمانو ډکه ده

ناصحه پریږده ستا د عقل کیسې
دلته کوڅه د لیونو ډکه ده

پر لیمه بار دي جنازې د هیلو
سینه لا هم د ترانو ډکه ده

یو جهاني زندان ته نه دی روان
دا جیلخانه د زولنو ډکه ده

ویرجینا ، ۸۹ - ۳ - ٦

غزل

سوالگړيم جوابونه هيروم درته درځم
کوڅې دې په بانو جارو کوم درته درځم
چې باغ دې د خيالونو د خزانه په امان سي
په لپو لپو اوښکې توپوم درته درځم
زخمونه به مې سترګې د رقيب روښانې نه کړي
مرهم ته پرهارونه زوکلوم درته درځم
چې مخې ته دې وسوځې د مينې وزرونه
پر سر باندې اورونه چلوم درته درځم
د زړو قمار خانه کې مې سر داو دی درته ايښی
پلمې پر غمازانو دروم درته درځم

چې څرك د سباوون مې تاله غيږې ليرې نه کې
خوښونه په لېمو کې زنګوم درته درځم
کوڅې چې يې له کاڼو خالي نه کې ليونتوبه
ازل او جنون دواړه قهروم درته درځم
د مينې سرکښي ده مرګه ليرې سه له مخې
په غاړه کې دارونه نخوم درته درځم
منګول به مې آسمانه تر ګريوانه در رسيږي
تناکې په سکروټو اوبوم درته درځم
چې نه سي کېږدلای جهاني د چا قدم ته
مغروره ککرۍ مې ماتوم درته درځم

ويرجينيا ، ۹۲ - ۲۹ - ۳

سندره

چې د شمعې له پتنګ سره پیمان وي
ستا د حسن زما د مینې به داستان وي

چې ژوندی وي لا مجنون په افسانو کې
چې فرهاد وي په شیرینو داستانو کې
چې رویبار وي چې وصال وي چې هجران وي

چې ساقي وي چې ګناه چې خرابات وي
چې زاهد وي چې تسبیح چې مناجات وي
چې فلك وي چې تقسیم وي چې زمان وي

چې لا پاته د خیام په خم کې زور وي
چې لا نوم د مستۍ پاته چې لا شور وي
چې نسکور په دې کوڅو کې لا رندان وي

چې لا سوز وي د مطرب په ترانو کې
جهاني به وي ژوندی په زمزمو کې
چې بوډی آسمان ولاړ لکه کمان وي

اسحق ننګيال ته

د هغه د ماضي پاڼه شعر په جواب کې

يو خاموش پيغام مې مات کړل
د اوږدو خيالو لاړونه
تر غوږونو يې راتير کړل
څو اشنا غوندې ږغونه

خوبولې سترګې موږم
يو نغمه مې تر غوږ کيږي
په رګو کې وينې ناڅې
د زړه مراندې مې شرنګيږي

شناخته

لکه په ژوند چې دې هیر کړی یمه
د قبر شناخته به مې نه پیژنې
د پسرلي باران به دلته هلته
زما له لحد سره نیژدې او لیرې
واښه شیندلې وي او ژړ ګلونه
د زمانې لولی به زما په شانې ډیر مینان
د تودې غیږې وي ایستلې د ابد لپاره
زما له لحد څخه به لیرې پر یو بله شناخته
چې زما په ژوند کې به لا هیره وه
دخپلو پردو

يوه له سيله جلا سوې مرغۍ
اوږدو چورتونو څخه وروسته يو ځل وچغيږي
او ماتوي به هديره کې د مرګي خاموشي
زه به دې هير يم
او زما شناخته به هم نه پيژني
او زما چيغې به هم
ستا تر غوږونو رسيدلې نه وي
خو ستا په ياد به مې زخمي نظمونه
د بيلتانه په اور سوځلې چيغې
د زمانې رنځورې شپې ويښوي
او هر ګړۍ به د نسيمه سره
زما د ځپلو اسويلیو بهير
لکه د مني په سړو بادو کې
د رژيدلو ژړو پانو زګيروی
در يادوي ستا پخواني ميلان
د بې وسۍ ليونتوب
او د عالم له سترګو پټې رغېدلې اوښکې

ويرجينيا ، ۹۰ - ۱۶ - ۱

غزل

شیخه مه وایه ناخوالې چې پرهیز مې خماري سو
د زړه اور مې ژوندی سوی هر بخړی انګاري سو

تر پرونه یې شړلم نن مې غیبې ته وربولي
یایې بل خریدار نسته یایې حسن بازاري سو

د رویبار له سترګو ښکاري چې وعدې یې کړلې ماتې
د وصال کوڅې یې بندې تش دیدن یې قیامتي سو

ما به څه کړلې زاهده ستا ترخې ترخې خبرې
لاس تړلې د نصیب یم هر فریاد مې زنداني سو

ماته مه راځه زاهده له مستۍ مې توبې تښتي
د قسمت پور مې ادا کئ هر قدم مې دوزخي سو

ګناهونه یاغي سوي د ثواب زندان یې مات کئ
شیخ ته پاته سولې حورې هر یو خوب یې جنتي سو

جهاني په کانو ولي ملا جان سترګې سرې کړې
دا ویشونه ازلي دي باري ولې تومتي سو

غني خان ته

چې په سترګو د خیام کې نشې مستې د جنون سي
چې د شپې په لړمانه کې زلزلې د سباوون سي
چې د حق د لیونتوبه د دار پرې اَنَاالحق سي
چې کوګل د ازل ریږدي ګرد را پورته د ګردون سي
چې په صف د فرشتو کې د منصور نغمه توده سي
چې مجنون پکې لیلیٰ سي چې لیلیٰ پکې مجنون سي
په ټولې د لیونو کې پانوس پورته پلوشې کړي
په چغار د پنجرو کې پورته ږغ د اپلاتون سي
زه یې پیژنم غني دی دا زړور دا ببر سړی
چې اورنګ ته قلندر دی چې آسمان لره پښتون سي
سوال کوي له لویه خدایه ورته ولې ولې وایي
د بیلتون په تورو شپو کې د ازل په لمبه پایي

په هر حسن کې يار ګوري په هر رنګ کې نقاش وينې
د هر تار له سوره مست دی هر جمال کې جلوه ستايې
ليونی دی جام په سر دی او بيا سر په سجده پروت دی
لا يې غم د وصال نسته يو تش خيال د جانان غواړي
دا بې تخته شاه جهان دی دا ازل ته ياغي سوی
د يار ټيك لره يو ځاځکی د سپورمۍ لکه خان غواړي
د جنت له حورو تښتي له کوثره مرور دی
د غمګين مابنام په غيږ کې جام ګلونه ياران غواړي
له دې خپله ليونتوبه درنه ورك کفر ايمان دی
غني ستانه په مستۍ کې هم هستي ورکه هم ځان دی
کله مست يې له جماله کله اوښکې يې سجدو کې
کله پښو ته د صنم ځې کله خدای درته جانان دی
ستا قبله خپله سينه ده ستا جنون د زولنو دی
ته په وصل کې سوځيږې ستا هجران د ليونو دی
مرګ دې نه سې ختمولای جام دې نه سې تشپدلای
ستا يقين د ليونو دی ستا ګومان د ليونو دی
زما سينه کې دې ځالی ده زما د لوړو غرو عقابه
زما د شعر سومناته ستا غرور مې د سجدو دی
چې قطرې قطرې ځان غواړې چې غلام له دنيا نه ځې
چې په خپلو وينو لامبې دا دې خوی د پښتنو دی

ويرجينيا ، ۹۳ - ۱۵ - ۲

لوبه

تا خو به زر ځله پرمخ باندې وهلی یمه
تا به په سرو سترګو شړلی یم
ترټلی یمه
ته به زما مینه ځوانیمرګه بولې
او زما داستان به درته ختم ښکاري
خو زما په وینه کی د مینې اور ځالی کړې ده
داسې لمبه ده چې ما هم سوځوي
او د زمان زمهریر
هغه بخړې سړولای نه سي
زه له نصیبه مرور

زما د سرکښې مینې
زما د مغرورې ککرۍ او بې پروا لیونتوب
د خپل قسمت پخلا کول نه دي زده
ما چې فلك په غشو ولې زه یې هم وله
او لا لرمه په تیرکش کې غشې
زمانه ! زما لوبه لا ختمه نه ده
یو ځلی بیا دروزم
زه به دروزم
زه به چیغې وهم
او د تقدیر سره د جنګ پر میدان
د تندي نسبې بدلول غواړمه
هغه جنون چې په نامه یې هستیدلې یمه
اظهارومه او ښیمه درته
چې ستا ځنځیر مې لیونتوب ایسارولای نه سي
ستا زولنې مې له دې لارې اړولای نه سي
زه به دروزم
او د جنګ پر میدان
د خپلې مینې ازمېیل غواړمه
زمانه زما لوبه لا ختمه نه ده

ویرجینیا ، ۹۰ - ۱۷ - ۱

لیونی

هلته په دار سو منصوري لیونتوب
دلته پایمال سول دلیلا خیالونه
هلته په غرونو کې فرهاد را پریووت
په خپلو وینو یې کړل رنګ لاسونه

خیام روان و د دوزخ پر لوري
ورپسې تلې د ملایانو ټولې
چې په څنګ کې زوړ کتاب نیولې
ورپسې وړلې یې څنځیر اوکړې

پاس له آسمانه هاتف چیغه کړله
ویل یې ورکړ دې مجنون ته سزا
ځکه چې دا د هوښیارانو دنیا
د لیونو د پاره نه ده پیدا

۸۹ - ۱ - ۱۱ ، لاس انجلس

غزل

[د پیر محمد کاروان د غزل په اقتفاء]

مه ګوره سبا نن مې د زړه داغونه مه ګوره
خُه پرخپله لاره نااشنا زخمونه مه ګوره

پام چې دې لاسونه په مجمر کې لولپه نه سي
ډیر مې د سینې ایرو کې پټ اورونه مه ګوره

نور مې د زړګي د حجرې شمعې خاموشې دي
سوي پتنګان د هیلو وران قبرونه مه ګوره

ماته د ازل ساقي نسکوره پياله راکړله
نور مې په خمار کې د مستۍ خيالونه مه گوره

زه لکه حباب له راز ويلو پناه کيږمه
مه پرانيزه خوله مې دلته پټ رازونه مه گوره

مايې له سرو سترگو د خونريز تعبير اخيستی دی
ماته د شفق او د ښکلا خوبونه مه گوره

څوك د ليونيو له کاروان سره راغلی دی
پريږده جهاني د ليونو گامونه مه گوره

دا ته څوك يې چې كړې مې
په مړه وينه كې سندرې
لټوې مې ويښوې مې
په رګونو كې بخړې

دا ته څوك يې چې لونې مې
په سينه كې سره اورونه
ستنوې مې د زړه كور ته
د عمرو تللي خيالونه

دا ته څوك يې چې لا وينې
په دښتونو كې لښكرې
لا دې ګرځې په رګو كې
د تاريخ زړې خبرې

دا ته څوك يې چې لا ستايې
زما د لوړو غرونو څوكې
لا غوږو ته در رسيږې
ملالۍ ميوندي كړيكې

نظر

ما وير ګوره زمونږ د مينې کيسه
چې رسو نه کې بازاري يې نه کې
هسې نه ستا د شوخو سترګو داستان
هسې نه زما ليونتوب
هسې نه زما د تخيل افسانه
هسې نه ستا يا غې کاته
ستا ګيله مني شونډې
د کوم نقاش قلم ته
يا د شاعر تر غوږو ورسيږي
يوځلې زمونږ د خوږې مينې کيسه
د سهمناکې تورې شپې په زړه کې
يوې بريښنا په شانې وپرکيږي
د يوې شمعې په څير ولګيږي
او په تيارو کې آموخته
بخيلې تنګې سترګې
يوځل را واوړي له نظره موکې
وموسوځي
او را ريشتيا کې د بيلتون خوبونه

ويرجينا ، ۸۹ - ۳ - ۹

نفرت

يو ورځ به وينو له عمرونو وروسته
مياشتې کلونو وروسته
ته به زړه يې
او ستا حسن به هم
د چا تياره سينه کې
لمبې د مينې بلولای نه سي
د ښايستو سترګو کونجونه به دې
ګونجو اخيستې وي او نه به لري
دغه سورکي دغه نازك رګونه
پر نرۍ شونډو به دې ورك تبسم
د ناز کاته او دا خمارې سترګې
د چا ايمان له سره وړلای نه سي
تر زنې لاندې به دې سپينه غاړه
د چا اورونه ويښولای نه سي
زه به هم زوړ يم سړه وينه به مې
لکه ايره د بيګانې اورونو

د سوځيدلو بليدلو نه وي
نور به د چا د خوښولو نه يم
او تنهايي به مې د چا انتظار نه ويښوي
تاته به يادې سې زړې خبرې
زما د ځوانۍ او ليونتوب او د زاريو کيسې
چې ستا سښکلا ، ستا اورنۍ مينې مې
ريښې د کبر او غرور سوځلې
او زما مغروره ککرۍ به ټيټيدله درته
خو تاته زما مينه د خپلې ځوانۍ سياله نه وه
او زما اوښکې دې پرمخ باندې کتلې هم نه
غواړې به غيږ ته مې نژدې کې
او په غوږ کې راته
دانه دانه وشميرې
زما د زاريو زما د اوښکو
ويښو شپو خاطرې
لا به مې غيږې غوړيدلې نه وي
چې زما د تير عمر زخمې نکلونه
سينه کې بل کې د نفرت اورونه
او يو په بل پسې لمبه لمبه کې
زما د ځوانۍ د شپو وحشي خوبونه

۱۲ - ۱۰ - ۹۰

نقاب

که یو ځل خلکو ریښتیا وویله
یو ځلي وسپېدل پټ رازونه
یو ځل رسوا سوي دروغجني مینې
یو ځلي خلکو سره وکتله
ویې لیدل
تر نقابونو لاندې پټ مخونه
او د دوستۍ په پوښ کې نغښتي
شیطاني نیتونه
هغه بیځایه ، بې قیمته ، بې ارزښته اوښکې
هغه خیرنې مکرجنې خپلوی

يو ځلي يو له بله وتوريدل ، وتښتيدل
او يا د قتل په نيت ووتل تيره تيغونه
يايې هم بل کړل د کسات او انتقام اورونه
دلته به څوك اوسيږي
څوك به ژوندي پاتيږي
د محکې مخ به توله وينې واخلي
هر څه به وسوځيږي
همدا نقاب دی چې يې مخ د تباهۍ نيولی
همدا نقاب دی چې ژوندي مو ساتي

۸۹ - ۱۳ - ۱۰

غزل

نن دې بيا قتل ته جوړې دواړې سترګې فتانې دي
ما د مينې تور منلی ما ټاکلې هديرې دي

دا يوازې زاهد نه دی چې ګريوان يې دی څيرلی
د خامبازو له پايکو به د ساقي لا سترګې سرې دي

پرونۍ کوڅې يې تشې سبانۍ وعدې يې نسته
ته وا خضر يې وژلی ته وا وچې يې چينې دي

شيخ دې ژاړي له دوزخه چې توبه يې په واك نه ده
زمونږ قولونه له ازله تښتولی مو توبې دي

نه پيمان سي ماتولای نه له لارې راستنيږي
هغه مينه ازلي ده دغه اوښکې پښتنې دي

جهاني په ګناه پوه دی له سزايې پروا نسته
دغه دار ، هغه جلاد دی ، دا رسۍ ، هغه چړې دي

غزل

نن مې د خیال خونې تیارې دي وایه څنګه به سي
د نصیب سترګې مې ړندې دي وایه څنګه به سي

پر هغه لار چې دي وعدې د وفا ماتې کړلې
د غمازانو قافلې دي وایه څنګه به سي

د مرغلرو سوداګره مهلت پاته نه دی
پر بنو اوښکې میلمنې دي وایه څنګه به سي

چې په خوناب مې ستا خیالونه پکې وروزله
هغې مانۍ کې زلزلې دي وایه څنګه به سي

زما له جنونه دې کوڅې له کانړو ډکې سولې
لا د فلك سترګې کړې دي وایه څنګه به سي.

ستا په محفل کې مې وعده د سوځیدو کړې وه
د قسمت پښو کې زولنې دي وایه څنګه به سي

چې جهانی یې د سجدې په تلاش ووتلم
نن محرابونه بتخانې دي وایه څنګه به سي

نړیدلی بُت

هغه د حسن اودزرو څښتن
هغه د زور او زورورو سلطان
هغه د ناز او کرشمو هغه د زړونو مالك
چې کله توره په لاس
کله ماشوم په غیږ کې
هم د غضب هم د کرم پر کرسۍ ناست پهلوان
خوله د عیسیٰ ورسره
لاس کې اوبه د حیات
سترګې له اوره ډکې
متې له زوره ډکې

چاپې له مینې تویولې وینې
چاپې له ویرې سوځول ځانونه
دی د ښکلا او هنرونو خالق
دی د هر شعر او هر نظم هاتف
د ده په نوم آبادیدل ښارونه
د ده په مینه غوڅیدل سرونه
د ده له قهره ریږیدله غرونه
پیړۍ پیړۍ همداسې تیرې سولې
پلرو زامنو ته سینه پر سینه
وړلې د مینې او غضب افسانې
اویوه شپه د نیمې شپې زلزلې
د ستر معبد ودانۍ رنګه کړله
بت یې را وپرزاوه
د جواهرو او طلا توره یې ولویدله
لویه کپره یې بې تنه سوله ورغړیده
خیټه یې وچاودله
سینه یې چاکه سوله
او د الماسو جواهرو دانې
د لوی معبد پر میدان ورغړیدې
خلکو لیدې د سرو او سپینو توتې
له زړونو ووتې د مینې اود قهر کیسې
او یو په بل یې کړله سره تیغونه

د بت کپړې دوې بې واکې سترګې
د یوه کونج خواته کږې نیولې
او نور یې نه و د غضب اورونه
د بت په زړه کې د چا مینه نه وه
د ده سینه کې زړه جوړ سوی نه و

۸ - ۲۵ - ۹۱

دا ته څوك يې چې لا مست يې
د پرون په زړه وينه
لا دې اوس هم زرغونيږي
په ګوګل کې نوې مينه

لا په شپو کې درسره دي
زمونږ د ننګ يا غي خوبونه
لا دې څاڅي له قلمه
ناويلي تعبيرونه

ستړي روح ته مې رارسي
له تيارو نه ستا رڼا غونه
تخنوي مې ويده وينه
ستا شعرونه ستا نظمونه

دلته وينمه له ورايه
ستا د خيال يا غي وزرې
د زمان په کړليچونو
له توپان سره ډغرې

لاندې نه راځي ، نو ځکه زه شاعر د هرچانه زیات انقلابي ګڼم . شاعر د اجتماعي قیودو او آدابو په خلاف ګډیږي ، او خپل عواطف او جذبات آزاد بیانوي . شاعر د ریا کاری پردې شلوي ، او د ریاکارانو ګریوان شلوي : « دی په ښکاره سورې وهي چې خوله یې راکړه » . شاعر د ښکلا او جمال مداح دی . دی د جمال په دریاب کې خپلې قصیدې وایي .

پردې برسیره شاعر د ژبې د انکشاف او ښایسته کولو کې کومک کوي ، اود د ه ابتکارات او تشبیهات او استعارات د ژبې ذخیره زیاتوي.

شاعر د تخیل پر بنا د فیلسوف سره شباهت لري ، ځکه فیلسوف هم د تخیل په زور د کاینانو پردې شلوي او حقایق را څرګندوي ، او شاعر هم د تخیل په قوت د تحت الشعور پردې ځیروي او د انسان روحي حقایق ښکاره کوي . هم دا وجه ده چې اکثر فلاسفه شاعران هم وو . په مشرق کې بوعلي سینا او حکیم عمرخیام هم شاعران وو او هم فیلسوفان او په مغرب کې ګویټې ، او نیچې هم شاعران وو او هم فیلسوفان . دا فهرست ډیر اوږد دی ، او اوس یې هم په دنیا کې ژوندي مثالونه شته .

که شعر په رښتیا سره د عواطفو بیانګر وي ، او د بل احساسات متاثر کړي ښه شعر او ویونکی یې ښه شاعر دی ، نو پردې بنا ما د جهاني په اشعارو کې دا صفت ولیده او زه یې متاثر کړم . جهاني په خپلو سندرو کې د وطن په غم کې په زار زار ژړلي دي او هم یې په خپله تخیلي میخانه کې په کټ کټ خندلي دي . دې داراکوزیا د میرو اوسیدونکي د شعر په بحر کې د دریاب سفر کړی او د خیال په آسمان کې یې وزرې خورې کړې دي . زه ویلای شم چې جهاني د شعر په قلمرو کې ځانته ښه مقام پیدا کړی اود شاعرانو په محفل کې یې ښه درنه کرسۍ نیولې ده .

سید شمس الدین مجروح

د جهاني شعر

د ښاغلي عبدالباري جهاني د شعرونو دا نوي چاپ کيدونکي مجموعه راته د پير محمد کاروان په لاس د څو کرښو ليکلو لپاره راکړل شوه ، زه د جهاني خوږ او رنګين شعر سره د ده د وړومبي کتاب « ورکه مېنه » په لوستلو اشنا شوی وم په کوم مي چې يوه مختصره غوندي تبصره ليکلي او په « سپيدي » پيښور کي چاپ شوي وه ، په دغه ليك کي ما ويلي وو چې د جهاني د شعر د ښکلا راز د هغه د شعر په رواني ، د جذباتو په چپو او په سپيخلي رنګينه ژبه جوړو شويو ښکلو رومانې تصويرونو کي دی ، په نظم کي يې (هم) د غزل علامتونه لکه جام ، خم ، ساقی ، ميکده ، ميخانه ، پيمانه ، مې ، شراب ، زلف ، رخسار او شونډې او داسې نور پکارولي او شاعرانه

تصویرونه یې پرې رنګین کړي دي . جهاني دغه رنګین اسلوب برقرار ساتلی دی ، په دې نوې مجموعه کې ګڼ شمیر آزاد ، نیم آزاد نظمونه او یو څه غزلونه شامل کړی شوي دي ، داسې ښکاري چې آزاد شعر د جهاني د خیال د نیلي د زغاست خوښ میدان دی ، آزاد نظم چې د قافیو ، ردیفونو او بحرونو په غیر موجودګی کې د کومې خوږې رنګینې ژبې او په شاعرانه فضا کې د شعور د رنږو پلوشو ، د تخیل د لوړتیا او د جذبې ریښتینتوب غوښتنه کوي جهاني د هغې خیال ساتلی دی ، ولې آزاد نظم که هرڅو د وزن ، بحر او عروضو د پابندو نه آزاد وي خو د داخلي ساختي تنظیم ، د خیال د وحدت او د تاثیر (اغیز) د وحدت نه آزادې یې ښکلا او قیمت کموي ، آزاد نظم ته نظم وایي هم ځکه چې په دې کې به یو قسم له داخلي او ساختي وحدت او آهنګ موجود وي ، که دا نه وي نو بیا به ورته د نظم نوم ورکول مناسب نه وي ، د جهاني آزاد نظمونه سیوا د یو څو نه نور ټول په دې کنډه پوره خیژي ، د جهاني غزل هم رنګین رومانې مترنّم او مقصدي دي ، ولې په غزل کې یې د اسلوب ځانګړتیا د نظم هومره جوته نه ده ، د جهاني سوچ ، فکر او خیال د نوي وخت د تقاضو سره سم مترقي او ریالستي دی ، د خپلې خـــاورې خپل وطن او خپل قام سره یې پوخ کومتمنت (Commitment) دی.د قام او وطن درد ورلره نغمه خوږمنه او اغیزمنه کړې ده .

د شعرونو د یو کتاب په سریزه کې د دغه کتاب د بیل بیل نظم او د بیل بیل غزل د جاج اخیستو په ځای زه د کتاب په هکله د یو مجموعي تاثر د پیش کولو په حق کې یم ، ما چې د جهاني د شعر په هکله کوم ښه تاثر کړی دی د هغې د امتحان د پاره ما دا مسوده خپلو څو معاصرو ملګرو ته وار په وار د لوستلو او د رایې د پاره ورکړه چې وګورم زمونږ هغه معاصر ملګري چې جهاني یې نه لیدلی ، نه اوریدلی او نه یې د دې نه وړاندې لوستلی دی،د ده د شعر په هکله څه وایي ؟ ملګري قیصر اپریدي ورته د الجهاد نماینده شاعر اووې او راته یې ولیکل چې « ښاغلی عبدالباري جهاني هم د انسان د داخلي او خارجي

محسوساتو يو داسی نماينده قلمکار دی څوك چې د بشري المیو او طربیو تفسیر او تفصیل د غزل په نازکو شونډو بیانوي، ولې په غزل کې يې چې د الجهاد ماده راټینګه شي نو د نظم خورا پراخه غیږ واخلي ، او چې د جذبې زور او شدت يې په دې هم مطمئن نه شي نو بیا د آزاد نظم په فضاګانو ورګډ شي ، ده د ردیف او قافیې زیان قبول کړی خو د اظهار تقاضا نه ضایع کوي » ملګری پریشان داودزی وایي « عبدالباري جهاني هم په ننۍ پښتنه شاعرۍ کې د خپل افغاني فکر او نظر د سپیڅلتوب او د شعري فن او اسلوب د انفرادیت په اساس مستقبل کې د یاد وړ سخنور دی ، ښاغلي جهاني چې د کورنۍ افغاني جګړې کوم زخمونه خوړلي ، نوموړي په خپل روح کې جذب کړي دي او بیایې دغو ژوبلو احساساتو ته د غزلي شاعري د توریو ګلګونه جامه وراغوستلې ده . ښاغلي که یو شعار ورته خیال هم منظوم کړی دی نو د شعار اندازې له عیبه يې محفوظ ساتلی دی او زما په عقیده هم دغه خوبي د عبدالباري جهاني د شاعرۍ د ذکر وړ خاصه ده » ملګری مشتاق مجروح وایي چې « دومره ښه شاعري ما د افغانستان د شاعرانو نه وه لیدلې » د مردان محمد اقبال اقبال لیکي چې دومره مترنم الفاظ يې استعمال کړي دي څه ته چې شعري لفظونه وایي ، جهاني په خپله حواله د اولس او د اولس په حواله د خپلې معاشرې خبرې کوي ، په خپله آئینه کې وطنوال او د وطنوالو په آئینه کې د معاشرې تور سپین ، برګ چوپړ ، رانړه او تت عکسونه وینې ، بیا د دغو عکسونو خدوخال د لفظونو په رنګونو د خیال په ښایستونو او د پوهې مشاهدې او تجربې په هنر داسې په پام او احتیاط وړاندې کوي چې هرچاته پکې خپله ځیره هم هغه شان ښکاري څه چې يې کردار او عمل وي . د سپرلو په وړمو کې ورته د خپلې خوږې خاورې د لیلی ریښمینې زلفې یادیږي او د خزان په سپیرو بادونو کې ورته د خپل اولس وران ویجاړ کورونه او ریږۍ ریږۍ پاره پاره زړونه یادیږي ، شاعري کوي د خپل وطن د جدایۍ غم هم اخیستی دی ، د وینو سیلاب ته د بند وهلو تابیا هم کوي ، ورور وژنه يې هم وژنې ، د خویندو میندو د پرونو لوټو د حیا غم يې هم خوري

خپل جذبات يې په قابو کې دي او چيرته هم د ذهني انتشار يا د جذباتي چپاو ښکار شوی نه دی » ښاغلي م ، ر شفق راته وليکل چې « د عبدالباري جهاني دا ټوله شاعري خپلې خاورې ، خپل هيواد او خپلې ټولنې سره د شاعر د کلک تړون څرګندونه کوي ، د ده شعرونه د احساس بڼې دي ، د ده جذبې د ضمير پلوشې دي ، جهاني يو ملي شاعر دی ، د خپلو روایاتو ، تاريخ او ثقافت په رموز رسيدلی او د خپل اولس په نفسياتو ښه پوهيدلی شاعر ، د هغه په تن او وطن اور بليږي ، دغه مست او ښايسته وجودونه ورتيږي او نړيږي ، ګيرچاپير ماحول وينې وينې دی ، سترګې يې داړې وهي ، د زړه نه يې څړيکې پورته شي خو فکر يې دومره روغ ، شعور يې دومره پوخ دی چې د ايمان او عقيدې پښې يې چيرته هم نه دي لويدلې ، تکو تورو بوړنوونکو شپو کې هم د سبا پلوشې وينې ، ښه په اخلاص او يقين سره وايي چې د ظلم کاسه به نسکوريږي ، استعماري دسيسې به خاوري ايږي شي او په شيرينه زمکه به يوځل بيا د خوشحالۍ اتڼ جوړ شي .

« بيا به شنې پيالې وې ډکې له سرو ميو
د حميد د ترانو دور به بيا شي »

انديش شمس القمر چې په رايې او داد ورکولو کې ډير محتاط يادیږي راته وويل چې « دا خو ډير ښه شاعر دی ، ژبه لفظونه ، محاورې او تخيّل يې شاعرانه دي ، ما چې د افغانستان څومره شاعران لوستلي دي جهاني د هغو ټولو نه په بل رنګ دی ، ښه رنګينه او مړه شاعري يې کړې ده » .

د دې يو څو ملګرو د تاثراتو په رڼا کې زه دا په يقين سره ويلی شم چې د جهاني په شعر کې دومره اغيز او راښکون دی چې که هرڅوک يې لولي او اوري نو خوند به ورکوي ، د جهاني په شعر کې دا خوند او اغيز د جذبې صداقت ، د تخيّل لوړتيا ، د ژبې رنګيني او د اظهار ځانګړي انداز پيدا کړي دي ، مضمون او خيال که هرڅومره هم اوچت او ښکلی وي خو چې په نامناسب ، بې جوړه ، بې خونده ، غير فصيح يا بازاري ژبه کې وړاندې شوی وي نو د شعر قيمت پرې کميږي او

جمالياتي ذوق يې نه قبلوي ، د جمالياتي ذوق او حس تسکين خوشحالي او اطمينان د آرټ پخوانۍ او بنيادي وظيفه ده ، که يو فنکار يا نقاد دا بنيادي خبره هيره کړه نوکه هغه هرڅومره هم علمي ، نظرياتي فلسفيانه ، اخلاقي او مذهبي خيالات او مضامين وړاندې کوي او د بحث لاندې يې راولي هغه به په خپل ځای علمي ، نظرياتي فلسفيانه اخلاقي او مذهبي ارزښت (اهميت) لري ولې فني او جمالياتي ارزښت به يې له لاسه ورکړی وی ، د آرټ او فنپارو د ښيګڼو او سنجولو لپاره ډيرې نظريې او طريقې مينځته راوړلې شوې دي کومې چې له بيل بيل اړخ نه د آرټ جاج اخلي ، دا بيلا بيلې طريقې (ميتودز) په خپل خپل ځای د اهميت وړ دي او په آرټ پوهنه او شعر پوهنه کې د لوستونکو مدد کوي ولې د يوې فنپارې په هکله آخري فيصله د هغه نقاد وي کوم چې د لوستونکي په زړه او دماغ کې پټ ناست وي ، زه په خپل زړه او ذهن کې د پټ ناست نقاد له خوا د لوستونکو په زړونو او مزغو کې پټو ناستو نقادانو باندې زيری کوم چې جهاني د خپلو خوږو رنګينو او خوږمنو نغمو مجموعه تاسو ته ډالۍ کوي ، هيله لرم چې خوښه به مو شي .

فقط

ډاکټر اسرار

(هوتي مردان)

۲۸ اګست سنه ۱۹۹۳

پایکوب
عبدالباري جهاني
HOZWABR SH.

د جهاني په شعر کې ژوند او فن

شعر د لفظونو نه تصویر جوړول دي ، هغه تصویر چې ځان هم پکې ښکاري ، قام او وطن هم ، د قام او وطن ثقافت او تاریخ هم پکې ښکاري ، او مینه او خلوص هم . زمونږ د شعر د هنر سره وابستګي زمونږ طبیعي مجبوري هم ده او زمونږ د هنري کمال حاصلولو تنده غوښې حصه هم په ګوتو کوي . د شعر په هنر کې که مونږ هرځومره او هرځنګه اضافي د نوو تجربو سره کوو خو د شعر هنر مونږ نه دی پیدا کړی ، دا د قامونو د رسمونو، رواجونو ، کړه وړه ، او ثقافت د شریکو جذبو نه زیږیدلی او د سوونو زرګونو کالونه زمونږ په لاس کې دی . دا هنر چې د موزونې طبعې د خلکو لاس ته راشي نو د لفظونو نه داسې تصویرونه جوړ کړي چې دا ګونګی نه وي، بلکه ګویانه وي ؛ نه یوازې د

خپل وخت خلك حيران او متاثر كړي ، بلكه د راتلونكو زمانو د خلكو د پاره هم د مثال او حوالې كار وركوي . د نورو هنرونو په مقابله كې د شعر هنر ممتاز او منفرد ځكه دى چې دى د ژبې څخه تن دى او د ژبې لرلو باوجود كه دى خپل اظهار نشي كولى او څوك نشى متاثر كولى نو دغسې هنر په نورو خلكو كې ساه نشي اچولى ځكه چې هغه خپله مړينه شوى دى .

او زما په خيال د شعر هنر كه مړ پيدا كيږي نو د هغې نه يې نه پيدا كيدل زيات سخه دي . هر شعر كې ژوند ، زور ، ښايست او سينګار هله پيدا كيږي چې د تخليق كار د ټولو جذبو محور ، مينه او خلوص وي او پخپله يې د ټولو تجربو په رنګونو كې ځان ، خپلې جذبې او خپل احساسات رنګ كړي وي .

او چې شعر د دغو ټولو تجربو په رنګونو او ښايستونو سينګار كړى شي نو په منتشرو ذهنونو او كانړو كانړو زړونو كې هم لاړې جوړوي ؛ داسې لارې چې رنګونه او ګلونه پكې غوړيدلي وي او فطرت او روح پكې سره په شريكه سندرې وايي .

شعر د ابلاغ د ټولو نه زياته زوروره ذريعه ده . كله كله د سړي په ذهن كې او په زړه كې تير شوي او هير شوي حالات او واقعات هم د خپلو موسمونو سره داسې غاړه غټې كړي چې سړى پرې د حيرانى د اظهارنه اخوا كومه تبصره هم نشي كولى . د شعر هيڅ معنى نشته خو چې د چا د كومې جذبې سره اولګيده هم هغه جذبه ورته زر زر خپله يوه معنى پيدا كړي او هم په دې طريقه يې ځان له ژوند جوړ كړي ، او يو مقام برابر كړي . دې هنر يو داسې تماشا ځان ته جوړه كړي ده چې كه سوونو خلكو ولوست يا يې واوريدو د سوونو خلكو په زړونو كې كور جوړ كړي او كه زرګونو واوريدو او يا يې ووې د زرګونو خلكو په زړونو كې كور جوړ كړي او هم دغه سوونه او زرګونه خلك يې په خپل خپل انداز كې معنى هم كوي او اشتيار هم . هرڅو كه د شعر د هنر د ابلاغ توان ډير دى او ذرايع يې هم بيحسابه دي (د انسانانو په صورت كې) خو دا د شعر د هنر په قيمت پورې ده چې دى د چا په لاس كې دى ،

دی مې زیږولي او که ژوندی . ما اوس اوس د شعر د ابلاغ خبره وکړه دا د شعر د ابلاغ توان او زور دی چې زه چیرته پیدا شوی یم او عبدالباري جهاني چیرته پیدا شوی دی . هغه ته تراوسه زما کور کلی نه دی معلوم او ماته تراوسه د هغه کور کلی . هغه چیرته زما کتاب او شاعري ولوسته ښه پوهې ولګیده او ما سره یې نه یوازې رابطه پیدا کړه ، بلکه خپل ناچاپ کتاب « پایکوب » یې د لوستو د پاره هم راولیږه . او دا یې هم ولیکل چې په دې څه ولیکه . ښاغلی عبدالباري جهاني د یو پښتون نه سیوا زه اوس هم نه پیژنم چې دی د کوم ځای اوسیدونکی دی اګر چې د لب لهجې نه یې ښکاري چې دی د افغانستان اوسیدونکی دی . دا وخت د وایس آف امریکه یعنې د امریکا غږ راډیو په ادبي څانګه کې کار کوي او بس .

ما د جهاني شاعري په دې نیت هرګز نه ده کتلې چې په دې به زه څه لیکم او چې د هغې د پاره پکې مواد پیدا کړم . په دې خیال مې هم نه ده کتلې چې دی د کوم فکر او کومې نظریې څښتن دی ، بلکه که د دې وطن او خاورې سره زما څه تعلق نه وای نو نوره به مې هم په صفا ذهن لوستې وه خو د دې خاورې دې وطن ، او دې قاموليږ او ژبې او د شعر د هنر سره د تعلق او ټړون دغې بې وسيږ او کمزورۍ د سرته په دې مجبور کړی وم چې زه د خپل دغه تمجید په رنړا کې د ده د فن او هنر جاج هم واخلم او دا هم وګورم چې په کومه خاوره د څوارلسو پنځلسو کالو کوم مرګونی طوفان تیر شو یا تیریږي ښاغلی جهاني دې هرڅه ته په کوم نظر ګوري ؟

او اوس د ده په زړه او ذهن کې او د ده په سر کې د خپلې خاورې خپل ولس د سحرونو او ماښامونو د پاره د ژوند ژواک ، مینې بیلتون او دیدنونو د پاره کوم خوبونه کوم خیالونه او کوم امیدونه شته او که هغه هم د جنګ دې بلا وهلي او وژلي دي ؟

ما که د جهاني د شاعرۍ نه نور هم ډیر څه زده کړه ولې یوې خبرې یا نکتې پکې ماته نوی ژوند نوې ولوله او د خلوص ډکه مینه هم راکړه او لایې هم راته وښودل چې یو فنکار یو شاعر چې د خپلې خاورې خپل

وطن خپل قام او خپل ثقافت خپل تاریخ او خپل مستقبل سره سره د مینې کومه وظیفه په غاړه لرلې ده ، د هغې نه په داسې حالاتو کې هم غاړه ده غړولې ده که نه؟ده نه یوازې خپله وظیفه ترسره کړې ده ، بلکه په ډیر ډاډ او امیدیې د وطن د ښایست د تصویر په مخ دغه نوکاري ډیرې وختې ګټلې دي .

او دغه مخ ته یې د نوو فالونو او نوو رنګونو ورکولو د کلك یقین اظهار کړی دی دا که هرڅو د شاعر د دغې مینې شاعرانه مجبورې ښکاري خو زما دا یقین او ایمان دی چې دغه تصویر به د هر جهاني افغاني د ذهن او زړه په کور کې موجود وي ځکه چې د هر قتل نه پس یو تجربه زیږیږي او د هرې تجربې نه پس د قتل جوهر او امکان کمیږي .

او د شاعر احساس که هرڅو د وینو سیلاب اخیستی دی خو د ده احساس چې د کوم یقین اظهار کوي په هغې کې د خلکو ، قام او اولس جذبې هم شاملې دي . جهاني چې کوم کتاب راغونډ کړی دی هغې ته یې نوم « پایکوب » ایښی دی « پایکوب » د نوم او معنی د دواړو له لحاظه ماته د شاعرۍ په کتاب مناسب نوم نه ښکاري زما ترنظره که شاعرې ډیره د خپل درد د لحاظه د نوکو په څوکو شي او چغه شي نو هم د خپل فنی نازکیو او باریکیو د چوکاټ نه نه شي بهر کیدای . او دا خبره د دې کتاب د هر نظم هر غزل او هرې سندرې نه واضحه ده .

ښاغلي جهاني په دې کتاب کې په فني ډول د غزل حق هم ادا کړی دی ، د نظم هم او د سندرې هم . ده آزاد نظم هم لیکلې دی ، او پابند هم . آزاد نظم ځینې خلکو تقریباً د هرڅه نه آزاد ګڼلی وي . زما ترنظره د آزاد نظم هم خپلې پابندۍ وي نوریې څوك منې او کنه خو کم از کم د یوې « لې » پابندي خو پکې په کار ده چې دغسې د دې نظم خپل موسقیت هم برقراروي او خپل نهضت پکې هم ځاییدای شي .

جهاني په خپله دې شاعرۍ کې د خپلې خاورې خپل قام خپل اولس د هر زخم او هر درد قصه په دومره موثره ژبه کې په دومره فني هنر او فني غیرت راځای کړې ده چې که په بیا بیا لوستویې سړی نه مړیږي نو

دغه درد او دغه غيرت هرځل د سړي د اوښکو تويېدو او اوښکو ټينګيدو سبب هم کيږي .

ښاغلي جهاني اسحاق ننګيال ته دوه نظمونه ليکلي دي . دواړه د لوستو سره تعلق لري خو په آخري نظم کې . هغه خپل شاعر ملګري اسحاق ننګيال ته ليکي چې ماته زخمي نظمونه مه راليږه او زما نه پرې خپل ازغن خوبونه مه تښتوه . د فن دې کمال ته وګورئ چې په خپل خوب کې د کومې ويښې شوګيرې اظهار کوي دا نظم هغه په ډير خوند درد او سوز سرته رسولی دی - خو په پنځم بند کې هغه وايي :

دا په څه مې تويوې پرديسې اوښکې
دا په څه مې خوروې زاړه زخمونه
لا مې ولې مسافر زړګي ته ښيې
پر شنيليو د سکروټو بارانونه

او هم په دې نظم کې هغه ملګري شاعر ته وايي چې ماته خپل ايمان وايي چې بيا به سپرلی شي او د يخنۍ نه چې کومې توتکۍ تيريدلې دي دا به لکه په سيل وتلې بيرته راشي او همدلته هغه د خپل تاريخ ژورو ته کوزيږي او وايي :

بيا به ناڅې په لاسو کې ګيلاسونه
هرګل بوټی هره ځانګه به‌سوما شي
بيا به مستې په شپيلۍ کې وي سندرې
مـــرور قسمت به بيرته راپخلا شي

د ښاغلي جهاني د يو نظم عنوان دی « تياره صباوون » زه خپله په شعر کې هم او په عنوان کې هم صباوون بس هم د صبا صفت هم ګڼم او علامت هم . ښاغلي جهاني چې کوم عنوان خوښ کړی دی شايد هغه ، د « صبا کاذب » په معنی کې استعمال کړی دی خو په پښتو کې هرلفظ د سړي په ذهن يوعکس هم جوړوي . مور که د صبا کاذب معنی دروغژن صبا هم وکړو نو مور چې د صبا نوم کوم تصوير ته مخامخ کوي دغه معنی زمور په ذهن کې ټهيك عمل نه کوي ، بلکه مفاد پرست خلك چې د کوم صبا ذکر کوي هغې ته صبا ويل هم صبا

کاذب ویل هم او دروغژون صبا ویل هم ماته ښه ځکه نه ښکاري چې په دغې کې هم د صبا د علامت یو شك پټ وي . دغې حالاتو کې صرف یوه بورنوونکې شپه ویل مناسب ښکاري په دې نظم کې اګر چې شاعر د ریبار نه د علامت په طور مواد او معنی پیدا کړي دي نو پیدا کړي خویې په ټهیك طریقه دې خو د استعمال په وخت کې پکې د فني کمال پیدا کولو د پاره پاتې راغلی دی مثلاً :

هغه ریبار ته په دویم بند کې وایي :

دا زخمي زیری به لا څو پټوي
ریباره ستوګې دې رازونه وایي
د سحر بادیې جنازې راوړلې
نسیم په سرو ستوګو ویرونه وایي

خو په دریم بند کې چې شاعر ریبار ته دا وایي چې ریباره تاته به صباوون ښکاریږي خو ...

ریباره تاته صباوون ښکاري
زمایې د خیال نیمګړې شپې ماتې کړې
ته یې د ستوګو نوی زیری غواړې
زما په لیمو کې یې لشې ماتې کړې

یو خو ریبار چې کوم خبر راوړی دی شاعر اګر چې دغې ته زخمي زیری ویلی دی خو زما په خیال یو خو زیری هم د خوشحالۍ د خبر د پاره مخصوص وي دویم شاعر چې ریبار څنګه په ډومبی او دویم بند کې پیش کړی دی هغه داسې دی چې هغه دغه خبره د غمه په خپله بیانولی نشي او د ریبار دغه خبره نه ویل شاعر په خپل شعر کې ځای کړې هم ده خو شاعر بیا هم ریبار ته وایي چې ریباره تاته "صباوون ښکاري" همدغه وړه غوندې نکته ماته د جهاني غوندې پوهه او روزلي شاعر د پاره صرف یو شاعرانه غفلت ښکاري او یا د خپل درد او جذبې د شدت هغه زورورتیا چې دی یې د خپلې فني وظیفې نه بې نیازه کړی دی .

زه بیا هم د دې وړوکي نشان دهی د پاره ښښنه غواړم . دا هم ورسره وایم چې که جهاني د یو دغسې لوړ مقام شاعر نه وی نو ما به یې د پټیدو جرم هم په سر اخیستی وای . د ریبار سره په دغه مخاطبه کې چې بیا شاعر څه د زړه د درده وایي هغه د لوستو سره تعلق لري ، خو په پنځم بند کې چې ښاغلي جهاني د خپل وطن کومه غم لړلې نظاره

بسم الله الرحمن الرحيم

پیش کړي ده هغه په فني ډول بې مثاله او د اظهار له رویه نه هیریدونکي ده چې وایي :

« هغه دي پورته شوې لمبې د کلي
هغه دي وراني شوې کوڅې د جانان
په لاله زار کې خزان وغوړیدو
د ګلو ښارته ورشیوه شول زاغان »

په اووم بند کې هغه د لوستونکي په زړه او ذهن دغه عکس داسې لمبه لمبه خوره کړي چې نه زړه د دغې عکس نه خلاصیدای شي او نه عکس د زړه نه وتی شي . وایي :

« شپه د سحر په غیږ کې وغوړیده
زرینی وړانګې رخصتونه غواړي
د ښار په منځ کې بلا لنګه شوله
باج د ځلمیو د سرونو غواړي »

دغسې ښاغلي جهاني نور نظمونه هم په دغسې کمال سرته رسولي دي او په دې نظم کې داسې درد محسوس کیږي لکه سړی چې خپل زخم ته د درد د شدت نه ټکور هم نه شي ورکولی .

دغسې په « تصویر » کې هغه په فني کمال د تصویر په سترګو بلل د غړولو یو داسې جانانه توان پیدا کړی دی چې د لوستونکي په ذهن همدغه تصویر سترګې وغړوي او بیا چې د تصویر په بهانه د شاعر د جذبو او کیفیتونو کوم صورتحال جوړیږي په هغې کې د جانان د مینې سره د خپل وطن ناسازګار حالات داسې په ټوپونو ټوپونو ترمنځه راشي چې نه یوازې د یو جوړ کړي او ژوندي تصویر د سترګو نه رنړا وڅاڅي ولې هغه ځپلي ، امیدونه په یوه فني سنبډره کې په ځای پاتې شي . دغسې « ابلیس وخندل » ، اشنایي ، « جلوه » ، د غرور څلی ، غنی خان ته ، نړیدلی بت او داسې یو په نیو نظمونه سندرې او غزلې د لوستو سره تعلق لري خو د « مورچل ګوانه » نظم کې چې شاعر د خپل وطن ځلمی د لاس نه نیولی دی د شعوري عمل نه یې تیر دی د خپل وطن کوڅه ورته په ګوته کوي د خپل پلار او نیکه هډیرې ورته ښیي او د هر هوښای نه چې جنازې راپورته کیږي دا ورته په ګوته کوي . د شاعر فني کمال د کتو دی چې د دې ځلمي په ځوانمردۍ ټکونه نه کوي . هغه ته دا وایي خو ورسره ورته دا هم ښیي چې د دې هوڅه مطلب څه

دی ؟ د وطن د ضرورت شعور ولوه او د دې بیځایه ګولیو پر صبانې تاوان هم ځان پوه کړه دغسې د دې نظم د هوې مصرعې خوند او په یو تسلسل کې د مقصد روانې د شاعر په فني کمال ګواهي ورکوي .

زه که د بناغلي جهاني د هر نظم ذکر کوم او صرف د خپلې خوښې بندونه او مصرې رانقل کووم نو خبره به ډیره اوږده شي او زه به په لوستونکو خامخا د خپل ذوق د ورتپلو بیځایه کوشش کوم په لنډو ټکو کې به دومره ووایم چې د جهاني یو نظم یو غزل یوه سندره چې چا ووې نو که په کتاب لوستو کې ترې څه ځیز هم پاتې شو نو ذمه وار به یې زه یم ځکه چې په دې کې یو نظم او یو شعر د پرېښودونشته .

د شعر او ټولنې د ضرورتونو په هکله به دومره عرض وکړم چې هرڅو که هرې ټولنې ته د سندرې او شعر ضرورت دی خو زمونږ زخمي زخمي او وینې وینې وطن او ټولنې ته د جهاني غوندې سترګورو شاعرانو او په فني ډول کمال ته د رسیدلو شاعرانو ضرورت دی .

ځکه چې زمونږ د هر زخم نه څخیدونکې وینه د شعور او مینې نه د ډکې سندرې غوښتنه کوي . زما ایمان او عقیده دا ده چې مونږ په قومي سطحه هم او د شعر د هنر په سطحه هم ټول عمر خپل ماتم په سندرو کړی دی او دغه خیال مو تل داسې سندره کړی دی چې :

وخت که هرڅو په مونږه هرڅومره ستم کړی دی
مونږ په سندرو د لوټ شوي ژوند ماتم کړی دی

مونږ په سندرو ماتم ځکه کوو چې مونږ ژوندی قام یو ، مونږ ژوندي خلك یو او هیڅ مرګ ته په آسانه سونه نه ټیټوو .

او ماته د بناغلي جهاني ټوله شاعري هم د دغې جذبې ژوندي عکسونه ښکاري . زما یقین دی چې لوستونکي به زما د رایې تائید کوي .

په ډیره مینه او در ناوي
رحمت شاه سایل
افتخار مارکیټ درګی بازار
ملاکنډ ایجنسي
۲۶ / ۸ / ۹۳

فهرست

شماره	عنوان	مخ
۱ -	غزل	۱
۲ -	پایکوب	۳
۳ -	غزل	۵
٤ -	اسحق ننگیال ته د هغه ...	۷
٥ -	اسحق ننگیال ته	۱۲
٦ -	غزل	۱٦
۷ -	سندره (آشیانه)	۱۸
۸ -	افسانه	۲۰
۹ -	ابلیس وخندل	۲۲
۱۰ -	تصویر	۲٦
۱۱ -	تیاره سباوون	۲۸
۱۲ -	تنهایي	۳۱
۱۳ -	جلوه	۳٤
۱٤ -	غزل	۳٦
۱٥ -	د سحر وړمي	۳۸
۱٦ -	د شنو خاښلو کوډله	٤۱
۱۷ -	د غرور ځلی	٤۳
۱۸ -	د مرغلرو امیل	٤٥
۱۹ -	د مورچل ځوانه	٤۷
۲۰ -	د هستی مستي	٥۰
۲۱ -	د هنر تیشه	٥۲
۲۲ -	دوه رنګي	٥٤
۲۳ -	راکټ	٥٦
۲٤-	رسم	٥۹
۲٥ -	غزل	٦۱
۲٦ -	غزل	٦۳

۲۷ -	سندره	٦٥
۲۸ -	سارانی مینه	٦٦
۲۹ -	غزل	٦٨
۳۰ -	سبزه کوب	٦٩
۳۱ -	سفر	۷۱
۳۲ -	غزل	۷٥
۳۳ -	غزل	۷۷
۳٤ -	سندره	۷۹
۳٥ -	شناخته	۸۰
۳٦ -	غزل	۸۲
۳۷ -	غني خان ته	۸۳
۳۸ -	لوبه	۸٥
۳۹ -	لیونی	۸۷
٤۰ -	غزل (د پیرمحمد کاروان په اقتفاء)	۸۸
٤۱ -	نظر	۹۰
٤۲ -	نفرت	۹۱
٤۳ -	نقاب	۹۳
٤٤ -	غزل	۹٥
٤٥ -	غزل	۹٦
٤٦ -	نړیدلی بت	۹۷
٤۷ -	غزل	۱۰۰
٤۸ -	ورکه لار	۱۰۲
٤۹ -	د اورونو ټولی	۱۰٤
٥۰ -	غزل	۱۰٦
٥۱ -	چې زما درد ...	۱۰۸
٥۲ -	غزل	۱۰۹
٥۳ -	ژوندی بت	۱۱۰
٥٤ -	ګنګل شاهي	۱۲۰
٥٥ -	غزل	۱۲٤
٥٦ -	غزل	۱۲٥

پایکوب

د شعرونو مجموعه

عبدالباري جهاني

۱۹۹۳

د کتاب پیژندنه

o ـ د کتاب نوم : پایکوب

o ـ شاعر : عبدالباري جهاني

o ـ چاپ او صحافي : لاهور

o ـ کمپوزر : سید حسین پاچا

o ـ لومړی چاپ : د ۱۳۷۲ هـ ش د قوس میاشت د ۱۹۹۳ ع د دسمبر میاشت

o ـ شمیر : ۲۰۰۰ ټوکه

o ـ دپښتي طرحه : هژبر شینو اړی

دامجموعه د آزادافغانستان د لیکوالوټولنې د وفاجریدې په اهتمام خپره شوه.

اهداء

د پايکوبونو او سرکوبونو د زخمي نغمو دا ناسازه مجموعه زمـا سنګلي کندهار ته ، زمـا مست کندهار ته ، زما نړيدلي کندهار ته چې زما معشوق دی ، چې زما مسجد دی ، چـې زمـا کور دی ، چې زما ګور دی ، اهداءکوم .

کوم شعر ښه او څوک ښه شاعر دی ؟

انسان دوه خواوې لري ، یو خوا عقل او منطق دی ، او بله خوا یې عواطف او جذبات دي . د علم او صنعت ، ساینس او تیکنالوجی ، منبع قوهٔ ناطقه ده یعنې پر عقل او منطق اتکا لري . او شعر او هنر د مخیله قوې نه الهام اخلي او د هغه بنا پر تخیل او جذباتو ده . شاعر د انساني عواطفو او روحي وارداتو نماینده دی ، نو ځکه دی د بل انسان عواطف او احساسات راپاروي او متاثر کوي یې . انسان له نورو حیواناتو نه یوائې د قوهٔ ناطقې په لرلو سره امتیاز نه لري ، بلکه ژړا او خندا هم کوي ، او نور حیوانات د خندا او ژړا نه محروم دي . نو شاعر د خندا او ژړا د جهان سره ارتباط لري .

تخیل او جذبات خو اجتماعي قیود نه مني ، او د هیڅ امر او قاعدې